
# هغه عمومی سوالونو ته جوابونه چی
# اکثرکا فرانًیی د اسلام په هکله کوی




- ثووو ونه کول
- حجاب
- خپریدل دتوری په زور
- بنیادګرایان
- غیرنباتی خواړه
- شراب،خنزیر
- ژوند پسله مرګه
- ډلی
- کافر











لیکوال (ډاکټرذاکرنا َیک)
ترجمه (احمدالله خیرخواه )



**بایوگرافی**

ډاکټرذاکرعبدالکریم نا َیک په کال (۱۹۶۵ ) د اکټوبر پر (۱۸)نیټه د هندوستان په ممبی ښارکی وزیږید.ده خپل ابتدا َیی او متوسط تعلیمات د( سټ پیټر) د لیسی په ممبی کی بشپړکړی او دوولسم صنف َیی په( کیشن چند کالج) کی ویلی دی. پسله هغه َیی د طبابت په څانګه کی د (توپیا والا نشنل مدیکل کالج) په ممبی او بیا د عمومی طبابت او جراحی په څانګه کی د ممبی د پوهنتون څخه فارغه شو. د اسلام د دعوت او تبلیغ په برخه کی دده اوسنی وظیفی دادی. په ممبی کی د اسلامی پلټنی د مؤسسی رٔیس په ممبی کی د اسلامی ارزښتونوپه هکله د اسلامی پلټنی د مؤسسی د تعلیمی برخی مسؤل او رٔیس، په ژوند کی دده د خوښنی ساحه عبارت له مطالعی او مقا یسه په نورو مذاهبوکی، علاج ، انسانی خدمت، اجتماعی، اخلاقی، تعلیمی او اقتصادی وړیا کارونه. ددی نه علاوه ده مختلف کتابونه هم لیکلی دی. چی د هغو د جملی څخه موږ کولای شو چی د لاند نیو کتابونو نومونه واخلو.

**۱. هغه عمومی سوالونوته جوابونه چی اکثر کافران یی د اسلام په هکله کوی.**
**۲. قرآن مجید او مدرن ساینس (متناسب دی او که غیرمتناسب؟)**
**۳. په لوی مذهبونوکی پر آلله (ج) باندی عقیده.**
**۴. اسلام او ټروریزم (ویره).**
**۵. د ښځوحقوق په اسلام کی (ساتل شوی که ترپښولاندی شوی؟)**
**۶. قرآن (آیا په پوهه اومعنا سره وویل شی؟)**
**۷. آیا قرآن مجید د الله(ج) کلام دی؟**

**د اسلامی پلټنی د مؤسیسی د رٔیس ډاکټر ذاکرنا َیک پیژند ګلوی.**

ډاکټر ذاکرنا َیک یو مسلکی طبی ډاکټر دی. اوس ده خپل مسلک تبد یل کړی او یو ډیر فعاله او ښه بین المالی خطیب مبلغ اوداسلام سره دنورومذاهبوډیرښه مقایسه کونکی دی. ډاکټر ذاکر نا َیک د قرآن مجید، صحیح احادیثو او د نورو مذهبی کتابو پر بنیاد اوهمدارنګه د عقلی او ساینسی دلیلونواو واقعیتونو پر اساس تصفیه کوونکی او واضح کوونکی د ټولو هغه غلطو نظریو اوغلطو انګیزودی چی خلګ َیی د اسلام په هکله لری. دده عمر ۴۳ کاله دی.

ډاکټر ذاکر نا َیک دده ترعمومی وینا ؤوروسته هغه سختوپوښتنوته په قانع کونکوجواب ورکولوباندی چی د اوریدونکولخوا کیږی ډیرمشهوره دی. دتیرو (۶) کلونو یعنی د (۲۰۰۲ )کال راهیسی ډاکټر ذاکر نا َیک تر (۱۰۰۰) زیات بیانونه تراوسه پوری هندوستانه علاوه د دنیا په مختلفو برخوکی لکه امریکا،کاناډا، سعودی، ډوبی،کویټ، قطر ،بحرین، اومان، جنوبی، افریقا، مونتس، استرالیا، ملیشا ، سنګاپور، هانکانګ ، ټایلنډ ، ګیانا(جنوبی امریکا) اوهم داسی نورومملکتوکی ورکړی دی.

ډاکټر ذاکر نا َیک په ډیرو داسی بحثونواوخبرواتروکی چی دنورو مذا هبوډیرومشهور خلکوبه هم ګدون درلود برخه اخیستی ده او ډیربریالی توبونه َیی هم لاسته راوړی دی. چی یومثال َیی

دامریکایی(ډاکټر ولیم کمبل ) سره عمومی بحث وو.ددی بحث موضوع (قرآن او بایبل د ساینس په رڼا کی) دا بحث د امریکا د شیکاګو په ښارکی د(۲۰۰۰) کال د اپریل پر(۱) نیټه جوړ شوی وو. په دی بحث کی ده یو مثالی بریالی توب لاسته راوړ.

شیخ احمد دیدات ډاکټرذاکر نا َیک په کال (۱۹۹۴) ده (تردیداد زیات) په نامه یادکړ.نوم وړی داسلام سره دنورومذاهبودمقایسه وی موضوعاتوددنیا د مشهوره خطیبانو څخه دی. ده په هغه جایزه کی چی په کال (۲۰۰۰) د می په میاشت کی د اسلامی تبلیغ او د نورومذاهبو په مقایسه وی زدکړوکی دکامیابی په هکله ډاکټرذاکرعبدالکریم نا َیک ته ورکړه. په هغه کی نوشته شوی وه چی (زما زویه هغه کار چی تا په (۴) کلونوکی وکړد هغه کار د بشپړیدو لپاره ما (۴۰) کلونه وخت ولګوی، الحمدالله)

دډاکټر ذاکر نا َیک پروګرامونه ددنیا د (۱۰۰) نه زیات پرتلویزونی چینلونو باندی خپریږی. دی همیشه تلویزونی او رادیویی مرکولپاره راغوښتل کیږی. دده تر(۱۰۰۰) زیاتی ویناوی، مباحثی اودمرکی په (وی.سی.ډی) او (ډی.وی.ډی) ګانو باندی موجود دی.ده داسلام اونورو مذاهبود مقایسوی موضوعاتوپه هکله ډیرکتابونه لیکلی دی.

## <u>ډاکټرذاکرعبدالکریم نا َیک پته</u>

د اسلامی پلټنی د مؤسسی رئیس
۵۶/۵۸ تندیل سړک (شمال)، دوناری ممبی ۴۰۰۰۰۹- (هندوستان)
تلیفون:- (۲۲-۲۳۷۳۶۸۷۵ - ۰۰۹۱)
فکس:- (۲۲-۲۳۷۳۰۶۸۹ - ۰۰۹۱)
اِمیل:- zakir@irf.net
ویب پاڼه:- http://www.irf.net

# سریزه

## اسلام ته رابلل یوه دنده ده.

ډیر مسلمانان پوهیږی چی اسلام یو عمومی او هراړخیز دین دی چی د ټولو انسانانو لپاره رالیږل شوی دی.الله (ج) دبشپړه کا ینا‌تو حاکم او څښتن دی او مسلمانانو ته وظیفه ورکول سوی ده چی د الله (ج) پیغام تر ټوله انسانیت پوری ورسوی. خوډیر مسلمانان نن ورځ له دی کاره غافل دی چی دا وظیفه مخته بوزی. موږ دخپلو ځانونو لپاره اسلام د ژوندانه د یوی بهترینی لاری په توګه غوره کړی. خو اکثره خلګ نه غواړی چی دغه پوهه د هغو انسانانو سره شریکه کړی تر چا پوری چی دغه پیغام تراوسه نه دی رسیدلی. په عربی ژبه کې د دعوت معنی خلګ رابلل یا دعوت ورکول دی. اوپه اسلامی مواردو کې یی معنی د اسلام دخپرولو لپاره زیار او هڅه ده. په قرآن مجید کی راغلی **دی.((سورة (۲)** آیات (۱۴۰))

> دهغه چا نه به لوی ظالم بل څوک وی چی دالله (ج) له لوری هغه ته د یوی شاهدی ذ مه داری وردغاړی شوی وی او هغه پټه کړی. ستاسوداعمالوڅخه خوالله (ج) نا خبره نه دی.
> (( سورة (۲) آیات (۱۴۰))

## شل ترټولوډیرعام سوالونه.

کله چی موږ خلکو ته د اسلام پیغام رسوو نو مباحثه او مشاجره به حتماً واقع کیږی. قرآن مجید فرمایی، (( سورة (۱۶) آیات (۱۲۵))

> دعوت کړی ټوله په لار کی د الله (ج) په حکمت او ښه وعظ او تبلیغ سره، او بحث وکړې د دوی سره په داسی لاره چی تر ټولو ډیره ښه اوغوره وی .ستا پروردګار ډیرښه پوهیږی چی څوک د هغه له لاری اوښتی او څوک پرسمه لاره برابردی. (( سورة (۱۶) آیات (۱۲۵))

کفاروته د اسلام دپیغام درسولو په وخت کې معمولا دا کافی نه ده چی تاسی د اسلا م مثبت اړخونه ورته په ګوته کړی. ډیر کافران داسلام په واقیعت نه قانع کیږی. ځکه چی ددوی سره بعضی داسی سوالونه شته چی ددوی لپاره لاجوابه پاته دی. دوی شاید ستا دهغو دلایلو سره موافقه وکړی چی د اسلام د مثبت اړخ په هکله دی. مګر په همدې وخت کې به دویووایی چی تاسی خو هغه مسلمانان یاست کوم چی د یوی ښځی زیاتی ښځی واده کوی. تاسی خوهغه کسان یاست چه پرښځو ظلم کوی، تر پردولاندی یې ساتی، تاسی بنیادګران یاست اوهم داسی نور. زه پخپله په خوشحالئ سره د کافرانو څخه غواړم چی په ډیری آزادئ سره د خپلی محدودی پوهی له نظره، که صحیح وی که غلط، ماته ووایی چی ددوی په نظرکوم

شی په اسلام کې غلط دی. زه دوی تشویق کوم چی په أزادی سوال وکړی. اوزه حاضر یم چی ددوی ټولو انتقادونو ته چی داسلا م په هکله یی لری جواب ورکړم. د تیرو څو کلنو تجربی داراته ښودلی ده چی یوازی داسی شل عام سوالونه شته چه یو عادی کافر یی د اسلا م په هکله لری. کله چی تاسی د یوه کافر څخه پوښتنه وکړی چی ستاسو په نظر په اسلام کې کوم شی غلط دی؟ نودوی به پنځه یاشپږ سوالونه درباندی وکړی کوم چی په ثابت ډول په دغو شلو سوالونو کی راځی. داسلام په هکله دغه شلو سوالونو ته د دلیل او منطق پراساس جواب ورکول کیدای شی او اکثره کافران په دی جوابونو سره قانع شوی دی. که یومسلمان وکړای شی چی دغه جوابونه په ساده توګه په دماغ کی وساتی انشاًالله دی به کامیابه وی. که چیری

يوکافر په پوره توګه داسلام په واقيعت قانع نه شي نو لړترلړه به هغه غلط فهمی چی داسلام په باره کی يی لری ليری کړی او همدارنګه هغه منفی مفکوره به خنثی کړی چی کافران يې داسلام او مسلمانانو په هکله لری. خو شايد ډير لږ کا فران به وی چی ددغو جوابونو په هکله به نور جراو بحث وکړی چی د هغو لپا ره شايد نورو معلوماتو ته هم ضرورت پيداشی.

**درسنيوله امله غلطې انګيزی.**

د زيات شمير کافرانو په ذهنونو کی داسلام په هکله غلطې انګيزی ځکه راپورته کيږی چه دوی ته هروخت د اسلام په هکله غلط معلوما ت ورکول کيږی. بين المللی رسنی (سپوږمکی چينلونه) يا سټلايټ چينلونه، راديوستيشنونه، ورځپاڼی، مجلی اوکتابونه) په اصل کی د غربی دنيا تر تاثير لاندی دی. په اوس وخت کی انټرنيټ هم د معلوماتو يوه پياوړی ذريعه ګرځيد لی ده. که څه هم چی پر انټرنيټ باندی د هيڅ چا کنټرول نشته، خو داسلام پر ضد په پراخه اندازه زهرناکه تبليغات کيږی. په واقيعت کې مسلمانان ددغی ذريعې څخه داسلام اومسلمانانو د صحيح انځور په وړاندی کولو کې کار اخلی، مګر دوی دهغوتبليغاتو په نسبت چی داسلا م پرضد کيږی ډير وروسته پاته دی. زه هيله لرم چی دغه کوښښونه چی دمسلمانانولخوا کيږی. بايد ډيرشی اوپه دوامداره توګه ادامه پيداکړی .

**دغه غلط فهمی په ټوله نړۍ کې يوشا ن ده.**

زه د نړی په مختلفوبرخوکی د ډول ډول خلګوسره مخامخ شوی يم او ومی ليدل چه داسلا م په باره کی دغه شل عمومی سوالونه هرچيری يوشان دی. خوکيدای شی يوڅواضافه پوښتنی هم پيداشی چی دهغی سيمی اوشا وخوا سيمو په رسم او رواج پوری اړه لری . مثلاً په امريکا کی يوبل سوال دادی چی وايی ولی په اسلام کی د سود اخيستل او ورکول حرام دی؟ يوبل ددغه عمومی سوالونو څخه دهندوستان د کافرانو په منيځ کی عام دی، مثلاً دوی وايی ولی مسلمانان غيرنباتی خواړه خوری؟ ددغه سوالونو داضافه کولو دليل دادی چی د هندوستان خلګ په اصل کی په ټوله نړی کی پاشل شوی دی اودوی دنړی دنفوسو(٪٢٠) يا يوپر پنځمه برخه جوړوی.

**. دهغه کافرانو غلط فهمی چی د اسلا م مطالعه يی کړی ده**

ډير داسی کافران شته چی داسلا م مطالعه ُيی کړی ده. اکثريت د دغو خلګو يوازی هغه کتابونه مطالعه کړی دی چی داسلا م متعصبه نقادانو ليکلی دی. دغه کافران داسلام په هکله شل نوراضافه سوالونه هم لری. د مثال په ډول دوی دعوه کوی چی هغوی په قرآن مجيد کی متضاد شيان پيداکړی دی. دوی داهم دعوه کوی چی قرآن مجيد غيرساينسی کتاب دی اوداسی نور. په هم دی ډول ما نورو لږوعمومی سوالونو ته چی د کافرانو په منځ کی عام دی په خپلو عمومی بيانونو کی جوابونه ورکړی او يايی په هغه کتاب کی موندلای شی چی د( عمومی يا عام سوالونو ته جوابونه چه د اسلام په هکله و هغه کا فرانو ته چی دوی د اسلام په هکله يوڅه معلومات لری ) پنامه يادېږی.

**څوود ونه کول** (۱).

:- نارینه ته په اسلا م کی ولی اجازه شته چی څوودونه وکی ؟ یا په اسلام کی ولی د څو سوال ودونو درلودلو اجازه شته؟

جواب:-

**. د څو ودونو د درلودلو تشریح** ۱ .

دڅو ودونو سیستم دې ته وایې چی یو شخص کولای شی چی دیوه څخه اضافه د ژوند ملګری ولری. د یوه څخه زیات ودونه درلودل په دوه ډوله دی. یو دا چی یو نارینه د یوی ښځو سره ودونه وکړی، او بل دا چی یوه ښځه د یوه څخه د زیا تو نارینه وو سره ودونه وکړی. په اسلام کی د نارینه وو لپاره د محدودو ودونو اجازه شته مګر د ښځو لپاره د یو څخه دزیاتو نارینو سره واده کول پریووخت باندی په بشپړه توګه ناروادی. اوس راځوو اصلی سوال ته چی په اسلام کی ولی نارینو ته د څو ښځو سره دواده کولو اجازه شته؟

**.قرآن مجید یوازنی مذهبی کتاب دی چی پکی ویل شوی دی: چی تاسی یوواده وکی.** ۲

بل داسی کوم مذهب نشته چی په هغه کی نارینه ووته ویل شوی وی چی تاسی یوواده کولای شی. مثلا (ویداس ، راماین ، ما بهارت،ګیتا ،تلمود) چی داټوله د هندویزم مذهبی کتابونه دی او (بایبل) چی د عیسوی مذهب کتاب دی. په دی ټولو کتابونو کی داسی هیڅ شی نه دی ذکر شوی چی د ښځو تعداد یی محدود کړی وی. ددغه کتابونو مطابق یو سړی کولای شی چی هغومره ودونه وکړی څومره چی زړه یی غواړی. خو په دی وروستیو وختونو کی دهندوانو مذهبی لارښوونکو او کلیسا ګانو د ښځو درلودل تر یوی ښځی پوری محدود کړل. ډیر هندی مذهبی کسانو ددوی دکتابو مطابق ډیری ښځی درلودلی. پاچا (دشرت) د (راما) پلار د یوی څخه زیاتی ښځی درلودی. (کریشنا) ډیری ښځی درلودی. په پخوانیو وختونوکی عیسوی نارینه وواجازه درلودل چی هغومره ښځی ولری څومره چی زړه یی غوښت. ځکه چه (بایبل) د یوی څخه دزیاتو ښځو پر درلودلو باندی کوم حد نه وولګولی. یوازی څو پیړی مخکی کلیساګانو دیوه واده څخه پر زیاتو ودونو درلودولو باندی بندیزولګوی. په یهودیت کی هم د یوی څخه د زیاتو ښځو درلودلو اجازه ورکول شوی ده. د یهودو د پخوانی لیکنو او آثارو پراساس (ابرهم) دری ښځی درلودی او (سلمان) په سلګونوښځی درلودی . د ډیرو ښځو درلودل تر( رابی ګیرشوم یهودا ۹۶۰ سی .آیی تر۱۰۳۰ سی .آیی) پوری دوام درلود. تر هغه وروسته دزیاتو ښځو سره دواده کولو پر خلاف یو فرمان یا فتوا ورکړل شوه. یهودی ټولنی چی په اسلامی ملکونو کی یی ژوند کاوه دغه کار ته تر(۱۹۵۰) پوری دوام ورکړ ترڅو چی ریس (ربنیت) داسرایلو د یوی څخه د زیاتو ښځو سره پر یووخت واده کولو باندی بندیز ولګوی. یوه ډیره جالبه خبره داده چی په هندوستان کی د (۱۹۷۵) سر شمیرینی ښکاره کړل چی ډیرو هندوانو تر مسلمانانو د یوه څخه زیات ودونه کړی دی. په هغه ریپورټ کی چی (د ښځو مقام په اسلامی ټولنه کی) داداری لخوا په کال (۱۹۷۵)کی خپور شو په ( ۶۶ مخ او۶۷ )کی راغلی دی چی د (۱۹۵۱ څځه تر۱۹۶۱) کلونو پوری د یوی ښځی څخه د زیا تو سره په هندوانوکی د واده فیصدی (٪ ۵،۰۶) اوپه مسلمانانوکی (٪۴،۳۱ ) وه. دهندوستان دقانون مطابق یوازی مسلمانان اجازه لری چی یوی څخه زیاتی ښځی ولری. او دیو کافر شخص لپاره په هندوستان کی دا غیرقانونی کاردی چی اضافه تر یوی ښځی ولری. سره لدی چی د هندوانو لپاره یو غیر قانونی کاردی، خو بیا هم ډیروهندوانو دمسلمانانو په نسبت د یوه څخه زیات ودونه کړی دی. مخکی تر دی پر هندوانو باندی د یوی څخه د زیاتو ښځو پر

درلودلو باندی کوم بندیز نه وو. خو دا بندیز په (۱۹۵۴)کال کی ولګیدی کوم وخت چی دهندویزم د واده قانون پاس شو. پسله هغه دا هندوانو ته غیر قانونی شول چی دیوی ښځه زیاتی ښځی ولری. همداوس یوازی د هندوانو قانون د یوی ښځه دزیاتو ښځو درلودل منع کوی نه د هندوانومذهبی کتابونه. نواوس راځی داتحلیل کړو چی اسلام ولی د یوی ښځه دزیاتو ښځو د درلودلو اجازه ورکړی د ه.

**۳. قرآن مجید د محدودو ودونو اجازه ورکړی ده.**

لکه چی مو مخکې ذکر کړل قرآن مجید د مځکی پرسر یوازنی مذهبی کتاب دی چی وایی تشریحات په لاندینی آیاتونوکی راغلی دی.

| |
|---|
| تاسی واده وکړی د خپلی خوښی د ښځی سره ددوو، درواویا څلورو سره. اوکه تاسی بیرېږی له دی چی انصاف به ونه کړای شی ددوی په منیځ کی نوبیا وکړی یو. (قرآن مجید (۴) سورة (۳) آیات)) |

مخکی لدی چی قرآن مجید نازل شی دودونو لپاره کوم حد نه وو تعین شوی ډ یرو خلګو په لسګونو ښځی درلودی او بعضو حتی په سلګونو. اسلام تر څلورو ښځو پوری حد کیښود. اسلام نارینوته یوازی په هغه صورت کی که چیری دوی د ښځو په منیځ کی عدالت او انصاف وکولای شی. د دوو، درو او څلورو ښځو سره د واده اجازه ورکړل همدارنګه په عین سورة کی الله (ج) فرمایي: ((قرآن مجید (۴)سورة (۱۲۹) آیات))

| |
|---|
| دا به ممکنه نه وی اوپه طاقت کی به مو نه وی دا کار چی تاسوبه کامل انصاف وکړای شی په منځ کی د ښځو. ((قرآن مجید (۴)سورة (۱۲۹) آیات)) |

نوځکه د یوی ښځه د زیاتو ښځو سره واده کول کوم قانون نه دی بلکه یوه استثنا ده. ډیر خلګ غلط فکر کوی او دا د مسلمان نارینه لپاره ضروری بولی چی د یوی ښځه زیاتی ښځی ولری. په عمده توګه اسلا م چی ( څه وکوی) او(څه مه کوی) په لاند نی پنځه صنفه ویشلی دی.

(۱) فرض (داهغه صنف دی چی ضروری اویا واجب دی.)
(۲) مستحب (داهغه صنف دی چی ستایل شوی اویا تشویق شوی دی.)
(۳) مباح (داهغه صنف دی چی اجازه دکولویې شته.)
(۴) مکروه (داهغه صنف دی چی نه ستایل شوی او نه تشویق شوی دی.)
(۵) حرام (داهغه صنف دی چی منع شوی دی.) نو

د یو ښځه دزیاتوښځوسره واده کول په منځنی صنف کی راتللای شی یعنی اجازه دکولویی شته. خومږ دا نشو ویلای چی هغه څوک چه دیوې ښځه زیاتی ښځی ولری تر هغو مسلمانانو چه یوه ښځه لری بهتره دی.

**۴. په اوسطه توګه د ښځې ژوند دنارینه د ژوند په نسبت اوږد دی.**

په طبعی لحاظ نر او ښځه تقریباً په یوه تناسب پیدا شوی دی. ښځینه کوچنیان ډیر خوندی والی لری نسبت و نارینه کوچنیانوته. ښځینه کوچنیان نسبت نارینه کوچنیانو ته کولای شی چی د مکروبونو او ناروغیو سره ښه جګړه اومقاومت وکړی. نو په دی دلیل سره په کوچنیوالی کی دنارینه وو کوچنیانو مرګونه ډیر واقع کیږی نسبت و ښځینه کوچینانو ته. په جنګونو کی ډیر نارینه مړه کیږی نظر وښځینه ووته. ډیر نارینه دټکر او ناروغیو له کبله مړه

کیږی نظر وښځوته. نو په اوسطه توګه د ښځو ژوند اوږد وی دنارینه وو ترژوند. او په هر وخت کی چه وګوری موږ کولای شو چی ډیری کونډیانی ښځی نظر و کونډانو نارینه ووته پیدا کړو.

**په هندوستان کی نارینه ډیر دی نظر و ښځو ته ځکه چه ښځینه۵. کوچینیا ن تر پیدا ینښت د مخه وژل کیږی.**

هندوستان یو د ډیرو لږو مملکتونو څخه دی چیری چه ښځی د نارینه وو په نسبت لږ دی. ددی دلیل دادی چی په هندوستان کی ډیر ښځینه (نجونی) ماشومانی تر پیدا کیدو د مخه وژل کیږی (قصداً نقصانیږی). په حقیقت کی په کال کی (۱میلیون) ښځینه (نجونی) ماشومانی کوم وخت چی دوی په دی پوه شی چی نجلی ده تر پیدا کیدو د مخه وژل کیږی .که دا ناروا عمل بند شی، نو په هندوستان کی به هم ښځی د نارینه وو په نسبت ډیری وی.

**۶. په نړۍ کی د ښځو شمیر ډیر دی نسبت و نارینه ووته.**

په امریکا کی (۷.۸ میلیونه) ښځی تر نارینه وو ډیری دی. یوازی په نیویارک کی (۱ میلیون) ښځی ډیری دی نسبت و نارینه ووته. او د نیویارک دنارینه وو (یو پر دریمه برخه) هم جنس پرستان دی. په ټوله امریکا کی (۲۵ میلیونه) هم جنس پرستان نارینه شته. اودا ددی معناورکوی چی دوی خواهش نه لری چی د ښځو سره واده وکړی. په لویه بریتانیه کی (۴ میلیونه) ښځی اضافه دی نسبت وه نارینه ووته.په جرمنی کی (۵ میلیونه) ښځی اضافه دی نسبت ونارینه ووته. په روسیه کی (۹ میلیونه) ښځی اضافه دی نسبت و نارینه ووته. الله (ج) ښه پوهیږی چی نور به په ټوله نړی کی څومره ښځی نسبت و نارینه ووته ډیری وی.

**.د ابه ناشونی وی که چیری یو نارینه دیوی ښځی سره دواده کولو لپاره محدودکړو.۷**

که چیری یو سړی دیوی ښځی سره واده وکړی نو بیا به هم په امریکا کی تر (۳۰ ملیونه) اضافه ښځی ونه کړای شی چی میړه ولری. له دی کبله چی امریکا (۲۵ ملیونه) هم جنس پرستان لری. (۴ ملیونه) ښځی په لویه بریتانیه کی، (۵ ملیونه) ښځی په جرمنی کی او(۹ ملیونه) ښځی به په روسیه کی ونه کړای شی چی میړونه ولری. که فرضاً ستاسو یا زما خور یوه د هغو ښځو څخه وی چی په امریکا کی ژوند کوی اوواده یی نه وی کړی، نو د هغې لپاره صرف دوی لاری شته: یا خو باید دا دهغه نارینه سره واده وکړی چه مخکی لا یوه ښځه لری او یا به د بد لمنی لاره خپله وی. دا په دی چی بله کومه لاره نشته. خو ټول پرهیزګاره اوحیا ناکه خلګ دا دوهمه لاره نه خوښه وی. ډیری ښځی نه خوښوی چی خپل میړه د نوروسره شریک کړی، مګر په اسلام کی کله چی دحالاتو او شرایطو څخه چاره نه وی نوښځی په اسلامی عقیده ټینګی او تر یوڅه شخصی تاوان تیریږی او نه پریږدی چی ددوی مسلمانی خویندی بدلمنی ته مجبوره شی چی دابه ډیرلوی تاوان وی.

**۸.واده کول د یو واده شوی سړی سره ښه دی نسبت د با زارد حسن اوهوس تر جوړید و.**

په غربی ټولنه کی دا یو عادی کار دی چی نارینه د خپلی عشق بازی او هوس لپاره د ډول ډول ښځو سره د واده پرته اړیکی ولری. چی په داسی حالتونو کی ښځی د بی حرمتی، رسوایی او عدم تحفظ د ژوند وخواته سوق کیږی. او په هم دغه ټولنه کی هغه نارینه چی دیوی څخه زیاتی ښځی لری د زغمولو وړ نه دی. ځکه چی ښځی غواړی چی په ټولنه کی

خپل عزت او مقام وساتی او یو محفوظ ژوند پر مخ بوزی، نو د هغو ښځو لپاره چی نشی کولای میره پیداکړی دوی لاری شته. یوه خو دا چی دا به دهغه چا سره واده کوی چی مخکی یی هم واده کړی وی. او دوهمه لار داچی د بازار د حسن او هوس قربانی کیږی. اسلام د ښځی مقام او عزت ته ترجیح ورکوی او د اولی لاری اجازه ورکوی. او د دوهمی لاری
اجازه نه ورکوی. اوداسی نور هم ډیر دلیلونه شته چی اسلام ولی د یوی ځخه د زیاتو ښځو د درلودلو اجازه ورکړی ده. اما اصلی مقصد یی دښځی دحیا او حُرمت ساتل دی.

**<u>د ښځی لپا ره د څو میړونو درلودل</u>(۲)** .

<u>سوال</u> :- که چیری په اسلام کی نارینه ته اجازه شته چی پریو وخت دیوی څخه زیاتی ما ینیگانی ولری، نو بیا ښځی ته ولی اجازه نشته چه پر یووخت د یوه څخه زیات میړونه ولری؟
**<u>جواب</u> :-** ډیر خلک په شمول دبعضو مسلمانانو سوال کوی چی ولی یو مسلما ن نارینه ته د یوی څخه د زیاتی ښځو سره د واده اجازه شته خو ښځی ته داحق نه دی ورکول شوی؟ اجازه راکی چی په ټینګا رسره ووایم چی داسلامی ټولنی بنیاد په عدالت اومساوات باندی ولاړ دی. الله(ج) نارینه او ښځی په یو شان او اندازه باندی جوړ کړی دی مګر په مختلفو صلا حیتونو او مختلفو مسؤلیتونو باندی. نر او ښځه جسماً او رو حاً یو له بله تو پیرلری. ددوی مسؤلیتونه یوله بله بیل دی. په اسلام کی نر او ښځه برابردی خو نه یو شان او یا عین شی ندی. په قرآن مجید (سورة نسا (۴) سورة آیات (۲۲ تر۲۴) پوری د ښځو یو لست ذ کرشوی دی د کوم سره چی مسلمان نارینه واده نشی کولای. همدارنګه په قرآن مجید (سورة نسا (۴) سورة آیات (۲۴ ) کی منع شوی دی چی نارینه وو ته هغه ښځی چی دوی فعلاً هم د بل چا سره واده او یا د بل په نکاح کی وی. په لاندی کی څو دلیلونه دی چی ولی ښځی ته په اسلام کی د څو مړونو درلودل منع شوی دی .
**۱).** که چیری نارینه دیوی څخه زیا تی ښځی ولری، نو د پیدا شوی ماشوم پیژندنه آسانه وی. مور او پلار َیی په اسانی سره پیژندل کیږی. او که چیری ښځه د یوه څخه زیات مړونه ولری نو یوازی به د کوچنی مور پیژندل کیږی نه د هغه پلا ر. اسلام په ډیره لویه اندازه دوالدینو یعنی د موراو پلار پیژندنی ته اهمیت ورکوی . ارواح پوهان وایی هغه کوچنیان چی والد ین یی نه وی معلوم خصوصاً پلار، دوی به د شدید ذهنی خلل اوناراحتی سره مخامخ وی. اکثر دغه کوچنان خوشحاله کوچینیوالی نه لری او له همدی کبله د بد کارو (فاحشو) ښځو کوچنیان ښه صحتمنده کوچنیوالی نه لری. که چیری یو ددغه ډول کوچنانو څخه په ښوونځی کی شامل کړل شی او د مور څخه یی د پلار د نامه پوښتنه وشی نو دا ښځه مجبوره ده چی د دوو او یا زیاتو کسانو نومونه ورکړی. زه پو هیږم چی دا اوسنی پر مختللی ساینسی دور دا ممکنه ګرځولی ده چی د جینیټیکی معایناتو په مرسته د کوچنی مور او پلار وپیژند لای شی.
**۲)** په طبعی لحاظ نارینه نسبت و ښځی ته د څو ودونو درلودل خوښوی.
**۳)** په بیولوژیکی لحاظ نارینه کولای شی چی د څو ماینوګانو په درلودلو سربیره د یوه میره و ظیفه هم په آسانی سره ترسره کړی. او که ښځی په داسی یو حالت کی وی چی په یو وخت کی څومیړونه ولری وبه نشی کولای چی د یوی ماینی وظیفه اجرا کړی.
**۴)** که چیری یوه ښځه په یوه وخت کې د یوه څخه دزیاتو نارینو سره جنسی اړیکی ولری داسی امکانات یی ډیرزیات شته چی دغه ښځه به په ډیرو داسی امراضو اخته شی چی د جنسی عمل په نتیجه کی رامنځ ته کیږی او دغه مرضونه به بیرته دهغې میره ته انتقالیږی. که څه هم چه د ددې میړه به د نورو ښځو سره جنسی اړیکی ونه لری. خو که چیری نارینه د

یوی څخه زیاتی ښځی ولری دداسی خطرونو ویره ورسره نشته. په داسی حال کی چه یوه ښځه یی هم تر خپل میړه پرته د بل چا سره جنسی اړیکی ونه لری. دا پو رتنی د لیلو نه هغه دی چی یو شخص په آسانی سره کولای شی په ګوته کړی. کیدای شی چی نورزیات دلیلونه هم وجود ولری چی الله(ج) ولی په خپل بی حسابه حکمت سره د ښځو لپاره پر یو وخت د څو میړونو درلودل منع کړی دی.

**. حجاب (پرده) د ښځی لپاره(۳)**

**سوال :-** اسلام ولی تر پردی لاندی د ښځی په پټولوسره د هغوی سپکاوی کوی؟

**جواب:-** غیرمذهبی او آزادو رسنیو تل په اسلام کی د ښځو مقام تر خپلو حملو لاندی نیولی دی . ډیر داسی خلګ شته چه حجاب یا اسلامی جامو ته په اسلامی قانون کی پرښځی باندی د غلبی اوظلم د مثال په توګه ګوری. مخکی له دی چی د ښځو لپاره د اسلامی حجاب یا جامو د منطق او معقولیت تحلیل وکړو راځئ چه اول د اسلام تر ظهور مخکی په ټولنوکی د ښځو پر حیثیت باندی خبری وکړو

.

**. په پخواکی ښځو ته سپکاوی کیده او د شهوانی خواهشاتو لپاره استعمالید لی. ۱**

لاندنی نمونی چه د تاریخي سندونو څخه تر لاسه شوی دی په وضاحت سره ښکاره کوی چی په پخوانیو تمدنونو کی د ښځو حیثیت دومره ټیټ وو چه حتی دوی ته بنیادی آسانتیاوی، عزت او وقارنه ورکول کیده.

**(الف). دبوبیولانین تمدن:-** تردغه قانون لاندی ښځی به هروخت بی ارزښته او دټولو حقوقو څخه بی برخی وی. که چیری یو سړی به یوه ښځه ووژل نو ددی پرځای چی سړی ته سزا ورکړی د هغه ښځه به په مرګ محکومیدل.

**(ب)یونانی تمدن:-** یونانی تهذیب چه د پخوانی تهذ یبونو په منځ کی ترټولو دروند او شریف ګڼل کیږی په هم دغه شریف سیستم کی ښځه دټولو حقوقو څخه محرومه او په ټیټه سترګه ورته کتل کیدل. په یونانی افسانوکی یوه خیالی ښځه چی (پندوار) ورته ویل کیږی د انسا نا نو د بدبختی اصلی سبب بلل کیده. یونانیانو دوی تر انسانی مقام ټیټی او د نارینه وو په مقابل کی کمزوری ګڼلی. که څه هم د ښځو پاکوالی ددوی لپاره ډیرارزښت درلود اوښځی ته ډیراحترام کیدی، خویونانیان وروسته په خپل غرور د جنسی خواهشاتو تر اغیزی لاندی راغلل. په ټوله یونانی ټولنه کی د ښځو بدلمنی ددوی یو دوامداره عمل وو.

**(پ)د رومیانو تمدن:-** کوم وخت چی د رومیانو تهذیب دخپل شرافت په اوج کی وو نارینه ته دا حق وو چی خپله ښځه مړه کی. بد لمنی او فحشا د رومیانو په مینځ کی یو عمو می او عام کار وو.

**(ت)مصری تمدن:-** مصریانو ښځی دبربادی اسباب ګڼلی اودوی یی د شیطان نښی بللی.

**(ث)تر اسلام د مخه عرب:-** مخکی له دی چی اسلام په عربو کی خپورشی عربوبه ښخی ته په ټیټه سترګه کتل. او په زیاتو وختونو کی به چی (نجلی) به یی پیدا شول ژوندی به یی په خاورو کی ښخول.

**۲. اسلام ښځوته ډیره لوړه درجه اولو یوالی ورکړی او ددوی څخه توقع اوهیله لری چی خپل مقام او حیثیت وساتی.**
اسلام ښځو ته ډیره لوړه درجه ور کړی او دوی ته یی(۱۴۰۰) کاله دمخه عادلانه حق ورکړی دی. اسلام د ښځو څخه امید او توقع لری چه خپل دا درونند مقام وساتی.

**حجاب دنارینه وولپاره.**
خللګ همیشه د حجاب بحث یوازی دښځولپاره کوی. خو په مبارک قرآن کی الله (ج) د نارینه لپاره حجاب د ښځو ترحجاب دمخه ذکر کړی دی. دقرآن مجید په سورة نورکی راغلی دی.

> وواېه ته وومنانو نارینه ووته چی دوی باید کښته وساتی خپلی ستر ګی اوحفاظت وکړی د خپلو اندامو . چی دابه جوړ کړی دوی سپیڅلی اوپاک. بیله شکه الله (ج) ډیر ښه خبر دی. په کم هغه شیانو چی دوی یی کوی. ((قرآن مجید (۲۴)سورة (۳۰) آیات))

په هغه وخت کی چی نارینه و ښځی ته وګوری که چیری کوم بی شرمه او بی حیا خیال یی په دماغ کی راځی نو دی باید سمدستی خپلی سترګی کښته کړی.

**حجاب د ښځو لپاره.**
د سورة نور په ورپسی آیات کی راغلی دی.

> وواېه ومومنو ښځوته چی پټوی دوی خپلی سترګی اووساتی دوی خپل اندامونه. اونه دی ښکاره کوی خپل زینت هیڅا ته. مګر هغه چی ښکاره وی له هغه نه. او وادی چوی دوی پوړینی خپل به ګریوانونو باندی. اونه دی ښکاره کوی دوی زینت او مخ هیڅا ته مګر میړونوته، پلرونوته، خسرانوته، زامونوته اوخپلو ورونړوته....**((قرآن مجید (۲۴)سورة (۳۱) آیات))**

**. شپږاصولونه د حجا ب لپاره.۳**
د قرآن مجید او محمد صلی الله علیه وسلم د سنت مطابق په اساسی توګه د حجاب د ساتلو لپاره شپږ اصولونه ټاکل شوی دی.
**اول اصل:-** دا د بدن پټولو اندازه ده. دا اندازی د نر او ښځی لپاره مختلفی دی. دنارینو لپاره دبدن د پټولو اندازه چی لازمه ګڼل شوی ده لږترلږه د نامه د غوټی څخه ترزنګنوپوری ده. او د ښځی لپاره دا اندازه د ټول بدن پټول لازم ګڼل شوی دی. دښځی ټوله بدن په استثنا د هغې د مخ اولاسونو تر بندو پوری په حجاب کې راځی. که ښځی خواهش لری دوی کولای شی چی هم دغه حصی هم پټی کړی. خوبعضی علما ټینګار کوی چی مخ اولاسونه هم یولازم جز د حجاب دی. دا نور پنځه اصولونه د ښځو او نارینه لپاره په یوشان دی.
**دوهم اصل:-** کالی باید غټ اوپراخ وی چی ددوی دبدن شکل (اندامونه) معلوم نشی.
**دریم اصل:-** کالی باید دومره نازک نه وی چی ددوی بدن تر معلومیږی.
**څلورم اصل:-** کالی باید دومره زړه وړونکی نه وی چی د مخا لف جنس پام ځان ته راواړه وی.
**پنځم اصل:-** کالی باید دمخالف جنس سره مشابهت ونه لری.

**شپږم اصل:-** کالی باید د کافرانو د کالو سره مشابهت ونه لری. یعنی داسی کالی دی نه اغوندی چه هغه د کافرانو د مذهب د پیژند ګلوی لپاره عمومی وی.

**رویه اواخلاق هم د حجا ب برخه ده.۴.**

د حجا ب پر شپږواصولونو سربیره اخلاق، رویه او اراده هم په حجاب کې شامل دی. یو شخص هغه وخت د مکمل حجاب خاوند دی کله چی د کالو د حجاب سربیره یې د سترګو پرحجاب، د زړه پرحجاب، د فکرپرحجاب اود ارادی پرحجاب هم عمل کړی وی. داسی نورشیان لکه دخبرو کولو طریقه هم د حجاب په معنی راتلای شی.

**. حجاب دزوروني او آزار څخه ساتنه کوی.۵**

د قرآن مجید د سورة الاحزاب په لاندنیو ایاتونو کی الله (ج) د ښځو لپاره د حجاب د اړتیا په هکله داسی دلایل فرمایلی دی:

> اوپیغمبره ووایه وه خپلو ښځو (ماند ینو) ته، لونوته او مومنانو ښځو ته چی خواره دی کاندی پوړینان پر ځانونو باندی. او دا پټول به ډیر مناسبه وی اوضرر به نشی رسولای دوی لره څوک. اوالله همیشه بخښونکی او مهربانه دی.((قرآن مجید (۳۳)سورة (۵۹) آیات)).

قرآن وآیی چی حجاب ځکه د ښځو لپاره توصیه شوی دی ترڅو دوی د باحیا ښځو په شان و پیژندل شی او هم دارنګه حجاب دوی د ځورولواو آزار څخه ژغوری.

**۶. د غبرګولیانو خویندویومثال.**

فکروکړی چی دوی غبرګولیانی خویندی دی او دواړی په یوه اندازه ښایستی دی او پر یو سړک روانی دی. یوې اسلامی حجاب کړی دی او ټوله بدن یی پټ دی پرته له مخه او لاسونو تر بندنو پوری. او بلی خور غربی کالی اغوستی دی. یعنی لنډه لمن او قمیس. هلته یو څو لوچګان په یوه کنج کی ولاړدی او انتظار کوی چی یو څوک راونیسی او ویې ځوروی. نو ستاسو په ګمان کومه ښځه به دوی وځوره وی؟ هغه ښځه چی اسلامی حجاب یی کړی دی؟ او که هغه ښځه چی غربی کالی یې اغوستی دی؟ په طبعی توګه دوی به هغه ښځه وځوره وی چی غربی کالی یې اغوستی دی. داسی کالی اغوستل په غیر مستقیم ډول مخالف جنس د ځان د ځوریدولپاره ځانته رابلل دی. نو په دی اساس په قرآن مجید کی ډیر صحیح ذکر شوی دی چی حجاب ښځی د ځورونی او آزاره څخه ژغوری.

**۷. دمرګ سزادجنسی تیری کوونکی لپاره.**

داسلامی شریعت سره سم کوم سړی چی پر ښځی باندی جنسی تیری وکړی نوهغه ته د مرګ سزا ورکول کیږی. ډیرخلګ دومره سختې سزا ته هک پک پاته شی. حتی بعضی خو وآیی چی اسلام یوسخت زړه اوظالم مذهب دی. ما د کافرانو نارینه ووڅخه یوآسانه اوساده سوال وکړ. هغه داچی تاسی فکر وکړی الله (ج) دی نه کوی که څوک ستاسی میرمن یا ستاسی موراو یا خور بی عزته کړی یعنی جنسی تیری پری وکړی او قضاوت ستاسی په لاس درکړی اوهغه شخص چی جنسی تیری یی کړی وی ستاسومخته حاضرکړل شی نوتاسی به کومه سزاورته ورکړی؟ ټولو راته وویل چی موږیې وژنو. ځینو وویل چی موږیی ترهغه وخته ځوروو او په عذابوو یی تر څو چی دی مړشی. نوما دوی ته وویل چی که څوک ستاسو ښځه یا مور اویا خور بی عفته کړی نوتاسیَ یی وژنی. مګر که هم دغه جرم دبل چا دښځی،

موراو یا خورسره وشی نو تاسی بیا وایاست چی د مرگ سزا ورکول یوه بی رحمی ده. نو ولی باید دوه مخی معیارونه ولرو؟

**٨. غربی ټولنه په درواغو سره ادعا کوی چی دوی د ښځو مقام اوچت کړی اوعزت َیی ورکړی دی.**

د غرب دغه دعوا چی دوی ښځو ته آزادی ورکړی ده په حقیقت کی د دوی د بدن استثمار، د روح سپکاوی او ددوی د عزت او آبرو دتویولو یو پټ شکل دی. غربی ټولنه ادعا کوی چی دوی د ښځو مقام اوچت کړی دی عزت یی ورکړی دی. خو برعکس په حقیقت کی غرب د ښځو مقام د فحاشی، شهوت اوهوس سامان ته راټیټ کړی دی چی په خوند اوهوس پسی لیونی اود دلالانو په لاس د هنر او کلتور درنګینی پردې ترشا استعمالیږی.

**٩. امریکایو دهغه هیوادونو څخه دی چیری چی تر ټولو ډیر جنسی تیری پکښی کیږی.**

دامریکا متحده ایالات په نړی کی یو دډیرو پرمختللولو هیوادونو څخه ګڼل کیږی. همدارنګه دا هیواد یو د هغو هیوادونو څخه دی چیری چه د (ایف.بي.ای) د رپیورټ مطابق په (١٩٩٠)کال کی په ورځ کی (١٧٥۶) د جنسی تیری پیښی په امریکا کی واقع کید لی. پسله هغه په بل ریپورټ کی ویل شوی دی چی هره ورځ دجنسی تیری (١٩٠٠) واقعی په امریکا کی پیښیږی، چی په دا دوهم ریپورټ کی چه د کال ذکر نه ووشوی، کیدای شی چی (١٩٩٢ یا ١٩٩٣) کال وی داسی معلومیږی چی امریکایان ډیر صحتمند شوی وه چی تعداد یی ډیر شوی و. د داسی یو حالت فکر وکړی که چیری اسلامی حجاب په امریکا کی پلی شی او که چیری یو نارینه و ښځی ته وګوری او کوم خراب اوبی حیا فکر یی په دماغ کی راسی او دی خپل نظر کښته وساتی او هره ښځه اسلامی حجاب واغوندی چی هغه ټوله بدن پرته له مخه اولاسونه تر بندو پوری پټوی. او وروسته که کوم شخص جنسی تیری وکړی هغه د مرگ په سزا محکوم شی. نو زه ستاسو څخه پوښتنه کوم چی: آیا په داسی یو حالت کی به په امریکا کی د جنسی تیریو په پیښو کی به زیاتوالی راشی؟ اوکه به کم والی راشی؟

**١٠. د شریعت په نافذولو سره به دجنسی تیریو په پیښو کی لږوالی راشی**

په طبیعی لحاظ کله چه اسلامی شریعت په یوځای کی عملی شی مثبتی نتیجی به حتماً راښکاره کیږی. که اسلامی شریعت په هره ګوښه کی د نړی عملی شی که امریکایی او که اروپا یی ټولنه وی دوی به دآرامی ساه وکاږی. حجاب هیڅ وخت د ښځی درجه نه کښته کوی بلکی هغه نوره هم لوړ وی اود ښځی حیااوعزت خوندی کوی.

**(۴). آیا اسلام د توری په زور خپور شوی دی؟**

**سوال:-** څرنګه اسلام ته د امن مذهب ویلای شو په داسی حال کی چی اسلام د توری به زورخپورشوی دی؟

**جواب:-**د کافرانو یوعمومی شکایت دا دی چی اسلام به هیڅ وخت په ملیونونو پیروان نه درلودلای که د توری په زور نه وای خپور شوی. لاندی ټکی دا خبره واضح کوی. چی دا د توری زور نه بلکه په حقیقت کی دا د دلیل اومنطق زور وو چه اسلام په ټوله نړی کی خپورشو.

**۱. داسلام معنی ده امن یاصلح .**
اسلام دسلام د کلمی څخه چی معنی یی امن او سوله ده راوتلی دی. او همداسی ددی معنی داهم ده چی پخپله خوښه او اختیار و الله(ج) ته ځان ورسپارل. نو پس اسلام د امن اود صلحی مذهب دی، اوپه دی پوهیدل چی پخپله رضا اواختیار والله (ج) ته ځان ورسپارل دی.

**۲. کله کله د صلحی د راوستلو لپاره زور ته ضرورت وی.**
داسی نه ده چه هر سړی غواړی په نړۍ کې دی سوله اوهماهنګی برقراره شی. ډیر داسی خلګ شته چی غواړی د خپلو شخصی ګټو لپاره د نړۍ سوله ګډوډه کړی. د سولی د راوستلو لپاره کله کله زور ته هم ضرورت پیدا کیږی. اوهم دغه دلیل دی چی موږ به په هیواد کی پولیس لرو او دوی د مجرمینواوهغه کسانو پر ضد چی د انسانیت او ټولنی د ښمنان دی له زورڅخه کار اخلی تر څو په هیواد کی امن او سوله ټینګه شی. اسلام همیشه د سولی پرمختګ غواړی او په عین وخت کی اسلام مسلمانان دې ته تشویق کوی چی د ظلم په مقابل کی جنګ وکړی. دظلم په خلاف په جنګ کی کیدای شی چی د زور څخه کار واخیستل شی. په اسلام کی یوازی هغه وخت د زور څخه کار اخیستل کیدلای شی چی په هغه ځای کی مرام د سولی او عدالت راوستل وی .

**۳. د یوه تاریخ پوه نظر چی (دی لاس اولیری) نومیږی.**
یو مشهوره تاریخ پو (دی لاس اولیری) په خپل کتاب کی چی (اسلام په څلورلاره کی) نومیږی په (۸) مخ کی لیکلی دی: تاریخ ښکاره کوی هغه افسانی چه وآیی متعصبه اوسخت دریځه مسلمانانو پرټوله نړی باندی قبضه کوله او بیا یی پر فتح شوو قومونو باندی د توری په زوراسلام قبولاوه داسی عجیبی او احمقانه کیسی دی چی ترننه پوری تاریخپوهانو نه وی اوریدلی او لیدلی.

**۴. مسلمانانوپر اسپانیه باندی (۸۰۰) کاله پاچاهی وکړه.**
مسلمانانو هیڅ وخت د توری او زور څخه کار وانه خیست چه خلګ په زوراسلام ته راواړ وی. وروسته بیا عیسوی صلیبی جګړه ماران اسپانیه ته راغلل او مسلمانان یی د منیځه یووړل. په هغه وخت کی هیڅ یوه مسلمان نشوای کولای چی په آزادی سره آذان وکړی یعنی خلګ ولمانځه ته راوغواړی.

**۵. (۱۴) میلیونه عرب عیسویا ن دی.**
مسلمانانو (۱۴۰۰) کاله پر عربو پاچاهی وکړه. انګریزانو د ډیر لږوخت لپاره پر دوی پاچاهی درلوده. او همداسی فرانسویانو د یو څو کلونو لپاره پاچاهی کړی ده. خو په عمومی توګه ویلای شو چی مسلمانانو (۱۴۰۰) کاله پر عربو پاچاهی کړی ده. خو اوس نن ورځ هم (۱۴) میلیونه عیسوی مذهبه عربان شته. دا هغه عرب دی چی د پیړیو راهیسی عیسویان دی. که مسلمانانو د توری څخه کار اخیستلای نو تراوسه پوری به تاسی یو عرب هم نه وای لیدلای چی عیسوی به وای.

**۶. د (۸۰٪) څخه زیات کافران په هندوستان کی شته.**
مسلمانانو پر هندوستان باندی نژدی (۱۰۰۰) کاله پاچاهی وکړه. که دوی غوښتلای دوی دا قدرت درلودی چی د هندوستان هر یو کافر اسلام ته راواړ وی. خو نن ورځ هم د هندوستان

تر(٪۸۰) زیات خلګ کافران دی. د هندوستان دا ټوله کافران نن ورځ شاهدان دی چی اسلام د توری په زور نه دی خپورشوی.

**۷. اندونیزیا اومالیزیا.**

اندونیزیا د نړی هغه هیواد دی چیری چه تر ټولو ډیر مسلمانان ژوند پکی کوی. د مالیزیا اکثره خلګ مسلمانان دی. کیدای شی چی یوڅوک سوال وکړی چی کوم مسلمان فوځ اندونیزیا ته تللی دی؟ اودوی َیی مسلمانان کړی دی؟

**.د افریقا شرقی برخه۸.**

په هم دی شان اسلام په ډیری چټکی سره په شرقی افریقا کی خپورشوی دی. کیدای شی چی یو څوک دا پوښتنه وکړی چی کوم اسلامی فوځ شرقی افریقا ته تللی وو چی په زور سره دوی مسلمانان کړی.

**.د یوه تاریخ پوه نظر چی (توماس کارلیل) نومیړی .۹**

(توماس کارلیل) چی یوډیر مشهوره تاریخ پوه دی خپل په کتاب کی چی د (اتلان اود اتلانوعبادت) نومیړی ددغی غلط فهمی په هکله چی اسلام د توری په زور خپورشوی دی داسی وایی: زیات خلګ وآیی چه محمد (ص) خپل دین د توری په زور تر نورو خلګو ورسا وه. موږعیسویان بیله شکه باید فخروکړو چی خپل دین مو د تبلیغ اوعقیدی پربنا پرمخ بوتی. بیا هم که موږ دغه دلیل هم و منو، یوه اساسی غلطی وجود لری. فرض کو چه د توری خبره رښتیا ده. نوبیا به ته دغه توره د کومه کوی؟ هره نوی نظریه په لومړی سر کې دیوه انسا ن سره وی . دغه نظریه د یوه انسا ن په دماغ کې وی. او په ټوله نړی کې یوازی یوانسان عقیده پری لری. په بله معنی یوانسان دټولی نړی پر ضد. که چیری دی خپله توره راواخلی او وغواړی چه د توری په زور خپله نظریه پرخلګو ومنی اوبیایی ودوی ته انتقال کړی، دا به د هغه سره هیڅ مرسته ونه کړی. په عا مه توګه ، یوه نظریه به پخپله، د خپل وس ترحده تر نورو پوری انتقال شی. موږ وینو چه عیسویت هم د ضرورت په وخت کې توره نه ده رد کړی. کله چی (چارلیمن سا کسنیان )خلګ عیسویت ته راواړول نو دا د تبلیغ له لاری نه وو.

**. په دین کی هیڅ زور او جبر نشته۱۰**

په کومه توره اسلام خپور شوی دی؟ که چیری د مسلمانانوځخه دا توره هم وای خو دوی دقرآن مجید د لاندنیو آیاتونو مطابق نشوای کولای چی هغه استعمال کړی.

> بلنه کوه خلګو ته په لاره کی د الله په حکمت ، پند او نیکی سره. مبا حثه کوه له دوی سره په هغه طریقه چی هغه ډیره ښه ،زړه وړونکی وی. ((قرآن مجید (۱۶)سورة (۱۲۵) آیات)).

**د پوهی توره.۱۱ .۱**

دا د پوهی توره وه. هغه توره چی د خلګو زړونه او دما غو نه یی فتح کړی وه اوکویی.

> نشته زور په قبلولو کی د دین په تحقیق سره ښکا ره ده سمه لاره د ګمراهی نه .
> (قرآن مجید ((۲)سورة (۲۵۶) آیات)).

**۱۲. د (۱۹۳۴) او (۱۹۸۴) کلنو په مینځ کی په نړی کی د مذ هبونو ډیروالی.**
د (۱۹۸۶) کال د (ریدرډایجست ) په خپلی کلنی گڼه کی یوه مقاله خپره کړه چه په هغی کی یی د نړی په مذاهبو کی ددیر والی فیصدی په گوته کړی وه. دغه مقاله په (پلین تروت) نامه مجلی کی هم خپره شوی وه. ددغی مقالی مطابق (۱۹۳۴) څخه تر(۱۹۸۶) کلنو په مینځ کی اسلام د ټولو په سر کی (٪۲۳۵) زیات شوی وو. او عیسویت (٪۴۷) زیات شوی وو. کیدای شی چی دا پوښتنه وشی چی کوم جنگ په دغه پیړی کی پیښ شوی وو چه په دومره زیات شمیر ملیونونه انسانان یی اسلام ته راواړول.

**۱۳. په امریکا او اروپا کی اسلام تر ټولو زیات او په چټکی سره خپریدونکی مذهب دی.**
نن ورځ په امریکا کی اسلام تر ټولو زیات اوپه ډیری چټکی سره خپریدونکی مذهب دی. او هم داسی په اروپا کی تر ټولو مذهبونو زیات هم په چټکی سره خپریږی. په غرب کی کومه توره خلگ مجبوره کوی چی اسلام قبول کړی؟

**۱۴. ډاکټر (جوزیف آدم پرسن).**
ډاکټر (جوزیف آدم پرسن) رښتیا وآیی هغه خلگ چی په دی تشویش کی دی چی یوه ورځ به اتوم بم د عربو لاسته ورشی. په دی نه پوهیږی چی دا پخوا لا
ددوی په لاس کی لویدلی دی. او دا په هغه ورځ ولویدی په کومه ورځ چی محمد (ص) پیدا شو.

**(۵)مسلمانان بنیاد پرستا او تروریستان دی.**
سوال:- ولی اکثر مسلمانان بنیاد پرستان او تروریستا ن دی؟
جواب:-
دغه پوښتنه په مستقیم ډول او یا غیر مستقیم ډول د مسلما نانو څخه کیږی. په هر مذهبی او یا نړیوالوبحثونو کی، په ټوله تبلیغاتی او مطبوعاتی ذریعو کی تل مدام مسلمانانوته په یوه معین نظر کتل کیږی او همدارنگه داسلام او مسلمانانو پر خلاف بی حده زیات غلط معلومات او نظریات ددغو رسنیو له لاری نړی ته وړاندی کیږی.په حقیقت کی ددغو تبلیغاتواو پروپا گندونوپه نتیجه کی د مسلمانانوپرضد تعصب او تشدد زیاتیږی. د مثال په توگه کله چی د امریکا د (او کلاهاما) په ښار کی بمب وچاودیدی، آمریکایی خبری رسنیودمسلما نانو پرضد خپل تبلیغات پیل کړل او ډیرژریی تورولگاوی چی ددغی چاودنی ترشا د مینځنی ختیځ د توطٔه گران ولاړدی خوپه حقیقت کی دا روښانه شول چی دا بمی چاودنه دامریکا د فوځ یوه عسکرکړی وه.

**۱. د بنیاد گرد کلمی تعریف.**
بنیادگرهغه شخص ته ویل کیږی چه د یوی مفکوری یا عقیدی بنیا دونه یا اساسات عملی کوی اوهغی ته غاړه ایږدی. که یو سړی غواړی چه ډاکټر شی. دی باید د طبابت بنیادونه او اساسات وپیژنی،ومنی یی او عملی یی کړی.په بله معنی هم باید خپل په مسلک کی بنیا دگر وی. که یو سړی غواړی چی ښه ریاضی پوه وی.هغه باید د ریاضیاتواساسات وپیژنی،ومنی یی او عمل پری وکړی. هغه باید د ریاضی په مسلک کی بنیاد گروی.

**۲.ټوله بنیادګران په یوشانته ندی.**

موږ نه شوویلای چه ټوله بنیاد ګران یوډول دی.موږ بنیادګران پرښو او بدو ډلونشوویشلای.دغه ډول ډلی جوړول به د بنیاد ګرو په مسلک او کار پوری اړه ولری. یوغل بنیادګروټولنی ته ضرررسوی نوله همدی امله یوښه بنیادګرندی.خوبرخلاف یو ډاکټربنیادګر وټولنی ته ګټه رسوی او د خلګود احترام وړګرځی.

**۳. زه ویاړم چه یو مسلمان بنیاد ګریم.**

زه یوبنیاد ګرمسلمان یم او د الله (ج) په فضل سره د اسلام په بنیادی اواصلی اسا ساتو پوهیږم، منم یی او کوښښ کوم چه په خپل ژوند کی یی عملی کړم. یوریښتنی مسلمان پدی نه شرمیږی چه بنیادګروی.زه ویاړکوم چه یو مسلمان بنیادګریم ځکه زه پوهیږم چی د اسلام اساسات د ټولو انسانانواو د ټولی نړی لپاره ګټور دی.داسی هیڅ یو د اسلام بنیاد  نشته چه هغه دی د انسانانولپاره مضراود بشریت دګټوپرضد وی.ډیرخلګ د اسلام په هکله غلط نظر لری او ددوی په آند داسلام ځینی اساسات غیرعادلانه او نا منا سبه بولی. دغه غلط نظر ددوی د محدودی او غلطی پوهی له امله دی. که چیری څوک په خلاص ذهنیت سره د اسلام د عقایدواو هدایاتوڅیړنه ښه په غورسره وکړی نووبه لیدل شی چه  اسلام په انفرادی او اجتماعی توګه د ګټوڅخه ډک دی.

**۴. د ډکشنری له مخی د بنیاد ګرمعنی.**

د (ویبسټرډکشنری) له مخی بنیادګرا ُیی د امریکا د عیسویانود (پروټیسټانو) دډلی هغه تحریک وو چی د (۲۰) پیړی په اوایلو کی را څرګند شو.ددغه تحریک لخوا د عصری کیدوپه وړاندی یوعکس العمل رامنځ ته شو او د بایبل پر صحیح توب اوباوری توب باندی یی تاکید کاوه، نه یوازی په مذهبی اموروکی بلکه د یوه تاریخی اثرپه توګه هم. دوی دا تاکید کاوه چی بایبل د الله (ج) کلام دی. نوپدی توګه سره د بنیاد ګر کلمه په ابتدا کی د عیسوی مذهب دیوی ډلی لپاره پکارید له. چی دوی عقیده درلودله چی بایبل د الله (ج) کلام دی او پدی کی هیڅ ډول غلطی او یا تیروتنه نشته. د (اکسفورډ دډکشنری) له مخی د بنیادګرا ُیی معنی داده چی دیوه مذهب زاړه یا بنیادی عقاید په ټینګه و ساتل شی خصوصا داسلام.نن ورځ کله چی یو سړی د بنیا د ګرکلمه استعمالوی، په هم هغه ګړی دخلګو په ذهن کی یو ټروریست(ویره اچونکی) مسلمان راګرځی.

**۵. هرمسلمان باید یو ټروریست یا ویره اچونکی اوسی.**

ټروریست هغه سړی ته ویل کیږی چی په خلګو کی ډاراوبیره اچوی. کله چی یو غل د غلا په وخت کی پولیس ووینی دی بیریږی. پولیس د غله لپاره ټروریست یا ډاراچونکی دی.په عین توګه سره ټوله مسلمانان باید د ټولنی د بربادوونکو لکه غلو،بدمعاشانو او جنسی تیری کوونکولپاره ټروریست وی.کله چی دغه غلط کاره انسانان مسلمان ووینی دوی باید د مسلمان څخه په بیره کی شی.دا خبره صحیح ده چی د ټروریست کلمه دهغه سړی لپاره استعمالیږی.څوک چی د عادی خلګو په زړوکی بیره اچوی. خویو ریښتنی مسلمان باید یوازی د ټولنی دتخریب کارو لپاره ویره اچوونکی وی نه د عادی خلګو لپاره. په حقیقت کی مسلمان باید د نوروخلګولپاره دامن او سلامتی منبع وی.

**۶. عین سړی ته د غین عمل لپاره مختلف لقبونه ورکول.لکه ټروریست اووطن برست.**

مخکی له دی چی هندوستان د انګلیسانو څخه آزادی ترلاسه کړی.دآزادی د جنګ ځینو کسانوته چی د عدم تشدد پرلاره نه تلل انګلیسانو د ټروریستانولقب ورکړ.همدغه خلګو د خپلو همدغه افعالو له کبله  د

هندوستانیانو له خوا ستا یل کیږی.او د وطن پرست او پرهیواد مین لقبونه ورکول شوی دی.پس عین خلګوته د عین عمل لپاره بیل بیل لقبونه ورکول شوی دی.هغوخلګو چی ګمان یی کاوه چی انګلیستان پرهندوستان د واک درلودلو حق لری دغوافرادوته د ترووریست لقب ورکول شو.او هغوخلګوچی ګمان یی کاوه چی انګلیستان پرهندوستان د واک درلودلوحق نلری دغه خلګوته یی د وطن پرست او د آزادی د جنګ د اتلانولقب ورکړ. نوله همدی کبله کله چی د یوه سړی په هکله قضاوت کیږی نومړی باید هغه ته د خپل دریځ دبیانولولپاره پوره وخت او موقع ورکول شی .ددعوادواړه اړخونه باید واوریدل شی.حالت باید وڅیړل شی.او د سړی اهداف او عوامل باید په نظرکی ونیول شی. او وروسته د هغه سړی په هکله قضاوت وشی.

## ۷. داسلام معنی امن دی.

داسلام کلمه د (سلام) څخه رامنځ ته شوی ده چه معنی یی ده سلامتی او امن. اسلام د امن مذهب دی چی بنیادونه یی ددغه مذهب پیروانوته په ټوله نړی کی د امن درامنځ ته کولواو امن ساتلوسبق ورکوی.نوپس هر مسلمان باید یو بنیادګر اوسی یعنی داسی یوسړی چی ددغه مذهب چی دامن مذهب دی بنیادونه ومنی او تعقیب یی کړی.یومسلمان سړی باید یوازی دهغوافرادو لپاره تروریست او ویره اچوونکی وی څوک چی په ټولنه کی تخریب کاری کوی ترڅوپه ټولنه کی امن او انصاف رامنځ ته شی.

## (۶) دغیرنباتی غذاووخوړل.

**سوال :-** دحیواناتو وژل یو ظالمانه او بی دردانه عمل دی نوولی مسلمانان غیرنباتی یعنی د حیواناتوغوښه خوری؟

**جواب :-** د نباتی غذاوو خوړل دیوه نړیوال تحریک شکل غوره کړی دی. ډیرخلګ دغه تحریک د حیواناتو د حقوقو سره نښلوی او ځینی خلګ وآیی چه د حیواناتو دغوښی خوړل او د نورو حیوانی تولیداتو څخه کار اخیستل په حقیقت کی د حیواناتو د حقوقو څخه سرغړونه ده. اسلام ټولو ژوندی مخلوقاتو ته د رحم اوشفقت په سترګه ګوری.او په عین حال کی اسلام داهم وآیی چه الله پاک دغه مځکه او په دی مځکه کی موجود ټول موجودات دانسان د ګټی لپاره پیدا کړی دی. نو په انسانانو پوری اړه لری چه ددغه منابعوڅخه په پوره توازن د الله(ج)د نعمت او امانت په توګه کار واخلی. راځی چه ددغه بحث نوراړخونه هم وګورو.

## ۱. یو مسلمان کولای شی چه یوازی اویوازی نباتی خواړه وخوری.

یومسلمان کولای شی چی په یووخت کې ډیر ښه مسلمان هم اوسی او یوازی نباتی خواړه هم وخوری. د یو مسلمان لپاره دا لازمه نه ده چه دی باید یوازی غیر نباتی خواړه وخوری.

## ۲. قرآن مجید مسلمانانو ته اجازه ورکوی چه غیر نباتی خواړه وخوری.

قرآن مجید مسلمانانو ته اجازه ورکوی چی غیر نباتی خواړه وخوری دا لاندی آیاتونه ددغه دلیل د اثبات لپاره کافی دی .

> او هغه کسانو چه ایمان یې راوړی دی. وفا کوی په وعدو باندی او حلال کړای شوی دی تاسولره چارپایه حیوانات مګر نه هغه چی لست شوی دی.((قرآن مجید (۵)سورة (۱) آیات)).

چارپایان یی پیداکړی دی ستاسولپاره. چی تاسی یی اسباب ګرځوی د ګرموالی او د نورو ډیرو نفعو لپاره او بعضی له دوی نه تاسی خوری. ((قرآن مجید (۱۶)سورة (۵) آیات)).

او حقیقت دادی چی ستا سولپاره په څارویوکی هم یودرس دی.د هغو په ګیډه کی چی څه دی له هم هغونه موږ یوشی یعنی له شیدو موږ په تا سو چښواو ستا سولپاره په هغو کی نوری ګټی هم دی تا سی د هغو د غوښی نه خوری. (قرآن مجید ((۲۳)سورة (۲۱) آیات)).

**<u>۳. غوښه تغذیوی او د پروټین په درلود لو کی غنی ده.</u>**

غیر نباتی خواړه یعنی غوښه د پروټین د ترلاسه کولو تر ټولوښه منبع ده. غوښه د بدن د ودی او نمو لپاره ټول پرو تینونه یعنی هغه (۸) ضروری امینواسیدونه لری چه پخپله د بدن له خوا نه بلکه باید د خوراک له لاری بدن ته ورسیږی. همدارنګه په وینه کی اوسپنه، ویټامین (بی ۱ )او نایویسن هم شته.

**<u>۴. انسانان دغوښه خوړونکو حیواناتو په ډول غاښونه لری.</u>**

که تاسو د واښه خوره یا نبات خوړونکو حیواناتو لکه غوا، بزی او پسه غاښونه وګوری، نو وه به وینی چه ددوی ټول غاښونه یود بل سره شباهت لری. دغه حیوانات تخته او همواره غاښونه لری چه د نباتاتو د خوړولو لپاره ډیر مناسب دی. که چیری تاسی د غوښوخوړونکو حیواناتو غاښونه وګوری، نو وبه وینی چه ددوی ټولوغاښونه تیره او نوک داره دی چه د غوښی د خوړولو لپاره ښه مناسب دی. که د انسانانو د غاښو مجموعه تجزیه کړو، نو وبه وینو چه انسانان دواړه یعنی هم همواره او هم تیره غاښونه لری. نوپه هم دی اساس دوی هم نباتی او هم غیر نباتی خواړه خوړلای شی. یو شخص کولای شی چه دا پوښتنه وکړی چه که الله (ج) انسانانو ته امرکړی وای چه یوازی نباتي خواړه خوړلاي شی نو بیا ولي يې موږ ته تیره غاښونه را کول؟ نو دا خبره به منطقی او مناسبه وی چه ووایو الله (ج) زموږ ددغه ضرورت څخه خبردی چه موږ دواړه خواړه یعنی نباتی او غیر نباتی (غوښه) خوړلای شو.

**<u>۵.انسان کولای شی چه نباتی اوغیرنبا تی خواړه هضم کړی.</u>**

دنباتاتو خوړونکو حیواناتو د ها ضمی سیستم یوازی نباتات هضمولای شی. اوهغه حیوانات چه غوښه خوړونکی دی ددوی د هاضمی سیستم یوازی غوښه هضمولای شی. اما د انسان د هاضمی سیستم نباتی او غیر نباتی خواړه دواړه هضمولای شی. که چیری الله (ج) زموږ څخه غوښتلای چه یوازی نباتی خواړه وخورو نو یی ولی د هاضمی داسی یو سیستم راکوی چه هم نباتی او هم غیر نبا تی خواړه هضمولای شی.

**<u>۶. دهندو مذهب کتابونه د غیرنباتی خوړو خوړولو اجازه ورکوی.</u>**

**<u>(الف).</u>** ډیر داسی هندوان شته چه یوازی اویوازی نباتی خواړه خوری. ددوی په فکرد غیر نباتی خوړو خوړل ددوی دهندو مذهب خلاف عمل دی. خو حقیقت دا دی چه د هندو مذهب کتابونه انسان ته اجازه ورکوی چه غوښه وخوری. دهندو مذهب په کتابونو کی راغلی دی چه ددغه مذهب عا لمانو او بزرګانو غیرنباتی خواړه خوړل.

**(ب).** دهندوانو مذهب په کتاب کی چه ( مانو سمروتی) نومیړی په (۵) برخه (۳۰) نمبربند کی داسی راغلی: هغه څوک چه د حیواناتو غوښه خوری کوم بد عمل نه کوی حتی که چیری هر ورځ یی هم وخوری. ځکه چه الله (ج) پخپله داسی مخلوقات پیدا کړی چه باید وخوړل شی او ځینی یی بیا نور خوری یعنی پخپله غوښه خوړونکی دی.

**(پ).** د هندی مذهب کتاب ( مانو سمروتی) (۵) برخه (۳۱) نمبربند کی راغلی دی. د غوښو خوراک د قربانی په توګه صحیح دی .په عامه ډول سره دغه کار ته د خدایانو قانون ویل کیږی.

**(ت).** همدارنګه په ( مانو سمروتی) کتاب کی (۵) برخه (۳۹) او(۴۰) نمبربند کی راغلی دی. خدای پخپله د قربانی حیوان د قربانی لپاره پیداکړی دی. نو پدی توګه قربانی کول د حیواناتو وژل ندی.

**(ث).** د هندو مذهب کتاب (مهابهارت انوشاشان پروا) (۸۸) برخه د دهرمراج یدهیشترا او پیتامه بهیشما ترمینځ د یوه بحث نقل کړیدی چه موضوع یې ده د مړو د مراسمو په وخت کی یو شخص خپلو پخوانیو مړو دوستانو ته کوم ډول خوراک ورکړی ترڅو هغوی راضی شی.
ددی پراګراف شرحه په لاندی ډول ویل شوی ده.
(یودشتیرا) وآیی (او د زیات زور خاونده! هغه کوم شی دی چه که چیری مړو نیکه ګانوته هدیه کړل شی تل پا ته به وی؟ کوم هغه شی دی چه خپلو مړو نیکه ګانو ته یی ورکړو ا بدی به وی؟
(بهیشمه) وویل (که چیری د مړو د مراسمو په وخت کی خپلو مړو نیکه ګانو ته کنجیدی، اوربشی، اوبه او نوری میوی ورکړی نو دوی به د (یوی) میاشتی لپاره خوشحاله وی. که په دغه مراسمو کی ماهی ورکړل شی نو دوی به د (دوو) میاشتو لپاره خوشحاله وی. که د پسه غوښی ورکړل شی دوی به د (درو) میاشتو لپاره خوشحاله وی. د سوی غوښه به دوی د (څلورو) میاشتی لپاره خوشحاله وساتی. د بزی غوښی به یی د (پنځو) میا شتو، د سرکوزی غوښی به یی د (شپږو) میا شتو، د مرغانو غوښی به یی د (اوه) میاشتو، د هوسی غوښی به یی د (اتو) میا شتو، د یومخصوصی هوسی غوښی به یی د (نو) میاشتو، او یو ډول مرغه چی ګوانا نومیږی د هغه غوښه به یې د (لسو) میا شتو، د ګامیښی غوښه به یې د (یوولسو) میا شتو، د غوآیی غوښه به یې د (یوه) کا ل، اود یو ډول غټ غوآیی غوښه به دوی د (دوولسو) کلونو لپاره خوشحاله وسا تی، که د رانیو (یوښکری غټ ځنګلی ځناوردی) غوښه ورکړی نو دا غوښه به دوی د تل لپاره خوشحاله وساتی. او که غواړی چه ستا مړه نیکه ګان د تل لپاره خوشحاله پاته وی نو بیا د سری بزی غوښی ورکړی.

**۷.دهندوانو مذهب د نورو مذهبونو تر اغیزی لاندی راغلی وو.**

که څه هم چه د هندو مذهب کتابونو خپلو پیروانو ته د غیر نباتی خوړو خوړلو اجازه ورکړی ده خو زیاتو هندوانو ځکه د نباتی خوړو سیستم خپل کړی چه دوی د نورو مذ هبو لکه (جینزم) تر اغیزی لاندی راغلی وه.

**۸. نباتات هم ژوند لری.**

ځینی مذهبونو د نباتی خوړولاره پدی خپله کړه چی دوی د ژوندی مخلوقاتو د وژلو سره مخالفت لری. که یو انسان وکولای شی چی د ژوندی موجوداتو د وژلو پرته ژوند وکړی، نو زه به لومړی هغه انسان وای چه دغه لار می خپله کړی وای. په پخوا کی خلګو فکر کاوه چه

نباتات ژوند نه لری. خو نن ورځ ټوله په دی خبره پوهیږی چه نباتات هم ژوند لری. نو هغه خلګ چه وآیی ژوندی موجودات باید ونه وژل شی، د هغوی منطق بی معنا دی ځکه چه نباتات هم ژوند لری.

**۹. نباتات د درد حس هم کولای شی.**

دوی دعوه کوی چه نباتات درد نشی حس کولای نو ځکه د نباتاتو وژل دومره ګناه نده. نن ورځ ساینس موږ ته وآیی چه حتی نباتات هم درد حس کولای شی. خو د نباتاتو چیغه اوژړا انسانان نشی اوریدلای. د انسانانو غوږونه هغه آوازنه شی اوریدلای چه د اوریدلو په حد کی نه وی یعنی چه د (۲۰ هرټز) څخه تر(۲۰۰۰۰ هرټز) په مینځ کی نه وی. که یو آواز تر دغه حد پورته یا کښته وی د انسان غوږیی نشی اوریدلای. سپی کولای شی چی (۴۰۰۰۰هرټز) پوری آواز واوری. داسی شپیلکی شته چه زموږ په غوږونو نه اوریدل کیږی او حد یی د (۲۰۰۰۰ تر۴۰۰۰۰ هرټز) پوری دی. یوازی سپی دغه شپیلکی اوریدلای شی او انسانان یی نشی اوریدلای. سپی خپل د خاوند شپیلکی اوریدلای شی او ورته راځی. په امریکا کی یوبزګر یو تحقیق وکړ او په نتیجه کی یی داسی یوه آله جوړه کړه چه د نباتاتو ژړا او ږغ یی په داسی آواز بدل کړچی انسانانو اوریدلای شوای. ددغی آلی په ذریعه دوی پو هیدلای شو چه کله به نباتاتو د تندی له امله چیغی وهلی. وروستنی تازه تحقیقا ت دا ښکاره کوی چه نباتات د خوشحالی او خفګان احساس هم کولای شی.

**۱۰.که یو ژوندی موجود دوه حسونه ونه لری معنا یی دا نه ده چه دهغه وژل نولږ ګناه لری.**

یووخت یوه سړی چه د حیواناتو غوښه یې نه خوړل دا ویل چه نباتات یوازی دوه یا دری حسه لری او حیوانات پنځه حسه لری نو ځکه د نباتاتو وژل دحیواناتو د وژلو په پرتله یوه کوچنی ګناه ده. ما وویل فرض کړی چه ستاسی ورور ګونګی اوکوڼ پیدا شوی دی. کله چه هغه ځوان شی نو یو څوک یی ووژنی. آیا ته به قا ضی ته ووآیی پدی چی زما ورور د نورو انسانانو په پرتله دوه حسه کم لری نو دده قاتل ته هم لږ سزا ورکړی. نه په حقیقت کی به ته قاضی ته ووآیی چه زما ورور خومعصوم وو قاضی ته باید دغه قاتل ته سخته سزا ورکړی . قرآن مجید کی راغلی.((۲ سورة (۱۶۸) آیات))

> اوخلقو خوری تاسو هغه شیان چی په مځکه کی دی اوروا ګنل شوی دی.
> ((۲ سورة (۱۶۸) آیات)).

**.دحیواناتو د نفوسو زیا تیدل.۱۱**

که هرانسان یوازی نبا تی خواړه خوړلای او د حیواناتو غوښه یې نه خوړلای نو د نړی پر مخ به د حیواناتو شمیر بی حده زیات شوی وای. الله(ج) په خپلی پوهی اوعلم سره پوهیږی چه د نړی پرمخ دخپلو مخلوقاتو تر مینځ برابروالی څرنګه وساتی نو ځکه َیی موږ ته اجازه را کړه چه د حیواناتو غوښه وخورو.

**۱۲.دغوښی بیه مناسبه ده ځکه چه ټوله خلګ دحیواناتو غوښه نه خوری.**

زما په فکر سره دا کوم بد کار ندی چه ځینی خلګ یوازی نباتی خواړه خوری خو دوی با ید هغه انسانانوته چی غوښی خوری بی درده اوظالمان ونه وآیی. په حقیقت کی که د هندوستان

خلګ يوازې غوښه وخوري نو دغه انسانان چه اوس غوښه خوري دوی به په تاوان کې وی ځکه چه هغه وخت به د غوښې بيه هم ډيره جګه شي.

**(۷). دحيوانانو د وژلو اسلامي طريقه نازړه سواندی اوبې دردانه ده.**

**سوال :-** مسلما نان ولی حيوانات په ډير ه بی رحمی سره داسی وژنی چی ډيرعذاب پرتيروی او کرارکرار يی وژنی؟

**جواب :-** يوزيات شمير خلګ د مسلمانانوله خوا د حيواناتو د حلالولو طريقه چه ذبح نوميږی تر انتقاد لاندی نيسی. د لاندی ټکو په نظر کی نيولو سره ويلای شو چی د حلالولو اسلامی طريقه نه يوازی انسانی او زړه سواندی ده بلکه په ساينسی توګه هم تر ټولو غوره طريقه ده.

**.دحيواناتو د حلا لولو اسلامي طريقه.۱**

د عربی ژبی کلمه ذکايتم چه يو فعل دی اصلاً د زکاه يعنی پاکولو څخه اخيستل شوی ده. د دغی کلمی مصدر تزکيه ده چه معنیَ يی پاکی، يا تصفيه ده. په اسلامی طريقه سره د حيواناتو د حلالولو لپاره دا لاندی شرايط ضروری دی.

**(الف):-** حيوان بايد په يوه تيره شی لکه چاړه يا چاقو ډير ژرژر حلال کړل شی تر څو د حلاليدلو په وخت کی کوم تکليف چی پر حيوان تيريږی کم کړل شی.

**(ب):-** د حلاليدو په وخت کی بايد د حيوان د تنفس پايپ (مری) او ښارګونه پری کړل شی. خود ملا شمزی يی بايد ورسره پری نه کړل شی.

**(ث):-** دحيوان وينه بايد ټوله راوايستل شی. مخ کی له دی چه د حيوان سر د تنی څخه جلاکړل شی ټوله وينه يی بايد راوايستل شی. که د حيوان سر د حلا ليد لو په وخت کی پری کړل شی نو په حرام مغز کی عصبی رشتی زيان مومی او په نتيجه کی به يی د حيوان د زړه حرکت ودريږی. د زړه د حرکت د دريدولو په نتيجه کی به ټوله وينه په رګونو کی پاته شی او دباندی به راونه وزی.

**۲.وينه د مکروبونو اوباکټريا لپاره د ژوند ښه شرايط برابروی.**

وينه د مکروبونو، باکټريا، زهرياتواو نورو مضرو اجزاو لپاره د ژوند ښه شرايط برابروی. د حلالولو اسلامی طريقه ډيره ښه او د روغتيا له کبله پاکه لارده. ځکه چی د حيوان د بدن څخه ټوله وينه وزی.

**.غوښه د ډير وخت لپاره تازه پاته کيږی.۳**

کله چی حيوان په اسلامی طريقه سره حلال کړل شی غوښه يی تر ډيره وخته تا زه پاته کيږی ځکه چی ټوله وينه ترې وتلې وی.

**۴.حيوان د درد احساس نه کوی.**

کله چی حيوان په اسلامی طريقه سره په تيره چاړه وی، ډيرچابک حلال کړل شی نو د ښارګونو د پری کيدلو له کبله وينه د حيوان د ماغ ته نه رسيږی او په دی توګه حيوان د درد احسا س نه کوی. د ساه ايستلو په وخت کی کله چی حيوان لغتی غورځوی او لپټکی وهی هغه د درد له عمله نه بلکه د عضلاتو د انقبا ض او انبسا ط (غونډيدلو او پراخيدلو) له کبله کيږی ځکه چی په بدن کی وينه نشته.

**(۸).غیرنباتی خوړو یا غوښې خوړلو مسلمانان تند مزاجه او د تشدد نه ډک ګرځولی دی.**

**سوال :-** ساینس واَیی چه هرڅه چی تا سی یی خوری ستاسی پرسلوک او چلند باندی اغیزه لری نو بیا ولی اسلام اجازه ورکوی چه مسلمانان دی د حیواناتو غوښه وخوری؟ ځکه چی غوښه خوړل خو انسان تند مزاجه او ظالم جوړوی.

**جواب:-**

**۱. یوازی د هغو حیوانا تو د غوښوا جازه شته چی واښه خوری.**

زه هم ددغی خبری سره موافقه لرم څه چی یو انسان یی خوری د هغه پرسلوک او رویې باندی اغیزه کوی. همدا یو دلیل دی چی ولی اسلام د غوښه خوړونکو حیواناتو چی تند مزاجه او خون خواره دی لکه پړانګ، لیوه، اوداسی نورو د غوښو خوړلو مما نعت کړیدی. ددغه حیواناتو د غوښی خوړل شاید انسان تند مزاجه او خون خواره کړی. اسلام یوازی د واښه خوړونکو حیواناتو لکه غوا، بزی، پسه او داسی نورو حیواناتو چه صلح پسنده، طابع او آرام دی د غوښو خوړولو اجازه ورکړیده. مسلمانان د آرام او طابع حیواناتو غوښه خوری. ځکه چه مسلمانان امن پسنده اونرم مزاجه خلګ دی.

**۲.قرآن مجید واَیی چه پیغمبر(ص) هغه شیان منع کړیدی چی خراب دی.**

په قرآن مجید کی راغلی ډی ((۷ سورة ۱۵۷ آیات)) او ((۵۹ سورة ۷ آیات)).

| |
|---|
| رسول چی نبی دی امر کوی په نیکی سره او منع کوی دوی له نارواونه اوحلالوی دوی لره هغه پاک شیان او حراموی په دوی هغه پلید شیان. ((قرآن مجید (۷)سورة (۱۵۷) آیات)). |

| |
|---|
| اخلی له رسول(ص) څخه هغه شی چه منعه کوی تا سوله هغی نه پس منعه شی. (قرآن مجید (۵۹)سورة (۷) آیات). |

د پیغمبر(ص) بیان کفایت کوی چی انسانان دی په دی قا نع کړی چه کوم ډول غوښه وخوری او کوم ډول ونه خوری.

**۳.د غوښه خوړونکو حیواناتو دغوښی د خوړولو په هکله د پیغمبر(ص) حدیث.**

دځینی صحیح احادیثو له مخی چی په صحیح بخاری، صحیح مسلم او ابن ماجه کی راغلی دی پیغمبر (ص) د لاندی شیانو د خوړولوممانعت کړی دی.

**(الف).**وحشی حیوانات چی تیره غاښونه لری. یعنی غوښه خوړونکی حیوانات. دا هغه حیوانات دی چی د پیشی په کورنی اړه لری. لکه زمری، پړانګ، پیشی، سپی، لیوه او داسی نور.

**(ب).**موږکان، مږی اوداسی نور.

**(پ).**خزنده ګان لکه مار، تمساح او داسی نور.

**(ت).**ښکاری مرغان چه منګولی یا تیرې پنجی ولری. لکه باز، باښه، کارګه او داسی نور.

داسی هیڅ ساینسی شواهد نشته چی بیله شکه دا اثبات کړی چی د حیواناتو غوښه خوړل انسان تند مزاجه اوتشدد لرونکی کوی.

**(۹). مسلما نان د کعبی عبادت کوی.**

**سوال :-** که اسلام د بت پرستی خلاف دی نو بیا ولی مسلمانان د کعبی عبادت کوی؟ اود لمانځه په وخت کی کعبی ته سجده کوی؟

**جواب :-** کعبه د مسلمانانوقبله ده. یعنی د مسلمانانو د لمانځه سمت دی. دا خبره باید په یاد ولرو چی که څه هم مسلمانان د لمانځه په وخت کی کعبی ته مخ کوی، خو دوی د کعبې عبادت نه کوی. مسلمانان یوازی اویوازی د الله (ج) عبادت کوی او هغه ته سجده کوی. د قرآن مجید په سورة بقره کی راغلی دی. ((قرآن مجید ( ۲) سورة (۱۴۴) آیات)).

| |
|---|
| په تحقیق سره وینو موږ بیا بیا ګرځول دمخ ستا په طرف د آسمان نو موږ به وګرځوو هرومروتا هغی قبلی ته چه ته َیی خوښوی. نوګرځوه مخ خپل په لوری د مسجدالحرام (کعبی ته په لمانځه کی )او په هرځای کی چه اوسی نووګرځوی تاسی خپل مخ په لمانځه کی په لوری دهغی (کعبی).(قرآن مجید (۲)سورة (۱۴۴) آیات). |

**۱.اسلام د یووالی اواتحاد غوښتونکی دی.**

دمثال په توګه کله چی مسلمانان غواړی الله (ج) ته لمونځ وکړی، ځینی به مخ دشمال خواته کړی ځینی به یې د جنوب خواته کړی. ددی لپاره چی د الله (ج) په عبادت کی د مسلمانانو ترمینځ اتحاد او یووالی رامینځ ته شی نو د مسلمانانو څخه غوښتل شوی دی چی دوی هرچیری چه وی مخ یوی خوا یعنی د کعبی خواته وګرځوی.

**۲.کعبه د نړی د نقشی په مینځ کی ده.**

د لومړی ځل لپاره مسلمانانو د مځکی نقشه جوړه کړه. دوی نقشه داسی جوړه کړی وه چه جنوب پورته اوشمال کښته وو. اوکعبه یی د نقشې په مینځ کی وه. وروسته غربی نقشه جوړونکو له سره نقشه داسی ترتیب کړه چی شمال یی پورته اوجنوب یی کښته راوستل. الحمدلله بیا هم کعبه د نړیَ د نقشې په مینځ کی راغلل.

**۳.دکعبی طواف د یوه خدای (ج) موجودیت ښکاره کوی.**

کله چی مسلمانان په مکه شریفه کی مسجد حرام ته ولاړشی، دوی د کعبی طواف کوی. د مسلمانانو دغه عمل د یوه خدای (ج) د موجودیت علامه ده ځکه چی هره دایره یومرکزلری. نو په دی الله (ج) یودی او واجب د عبادت دی.

**۴. . حد یث د حضرت عمر(رض)**

د حجر اسود یا توری ډبری په هکله د پیغمبرعلیه السلام د یونژدی ملګری حضرت عمر(رض) د خولی بیا ن دی چی دغه قول په صحیح بخاری کی د حج په باب حدیث نمبر(۶۷۵)کی داسی راغلی دی: عمر(رض) وویل زه پوهیږم چی ته یوه ډبره یی چه نه ګټه راته رسولای شی او نه هم ضرر، که ما پیغمبرعلیه السلام نه وای لیدلی چه ته یی مسحه کولی اومچولی ما به هم ته نه وای مچ کړی اومسحه کړې.

**۵. خلګ پرکعبه سربیره دریدل اوآذان یی کاوه.**

د پیغمبرعلیه السلام په وخت کی خلګ پرکعبه سربیره دریدل او آذان یی کاوه. هیڅ کله هم یوبت پرسته د بت عبادت داسی نه کوی چه پر هغه سربیره دریږی.

**.کافرانو ته په مکه کې اجازه نشته.(۱۰)**
**سوال :-** ولې کافرانوته په مکه او مدینه کې د اوسید لو اجا زه نشته؟
**جواب :-** دا رښتیا ده چه د قانون له مخې کافرانو ته اجازه نشته چې په مکه او مدینه کې ژوند وکړې. دا لاندې څوټکې به ځینې ممکن اسباب تشریح کړی.

**۱. ټول ښاریان نشی کولای چه فوجی چونیانوته ولاړشی.**
زه د هندوستان اوسیدونکی یم. ما ته اجازه نشته چه ممنوعه سیموته لکه فوجی چونیانو ته ولاړشم. په هرهیواد کی داسی ځایونه شته چې هلته و هراوسیدونکی ته د ننوتلو اجازه نشته. یوازې هغه افرادو ته اجازه شته چه د فوج سره تړاوولری. همدارنګه اسلام د نړی د ټولو انسا نا نو مذ هب دی. داسلام فوجی اوممنوعه سیمه د مکی او مدینی ښارونه دی. یوازی مسلمانانو او د اسلام د فاع کونکو ته اجازه شته چه دغه ښارونو ته ننوزی. د کافرانولخوا دا انتقاد بی ځایه دی.

**۲. مکی اومدینی ته د ننوتلولپاره ویزه.**
**(الف).** کله چې یوسړی یو خارجی هیواد ته سفرکوی نوموړی دهغه هیواد د ننوتلو لپاره ویزه یا اجازه ترلاسه کوی. هرهیواد د ویزی ورکولو لپاره خپل قوانین او شرایط لری. که دغه شرایط پرځای نشی ویزه نه ورکول کیږی.
**(ب).** په نړی کی یو هیواد چه د ویزی سخت شرایط لری هغه د امریکا متحده ایالات دی. دوی ډیر زیات شرایط اوغوښتنی لری. خصوصاً د دریمی نړی د اوسیدونکو څخه مخکی لدی چه ویزه ورکړی.
**(پ).**کله چی زه سنګاپورته ولاړم نو دوی د ویزې د پاڼی ترشا لیکلی وه چه هرهغه څوک چه سنګاپورته مخدره توکی راوړی سزا یی مرګ دی. نو که زه غواړم چی سنګاپور ته سفروکړم باید ددوی د قانون څخه سرغړ ونه ونه کړم. زه نشم ویلای چی د سنګاپور دغه قانون ډیر بی رحمه او غیرمتمدنه دی. ماته یوازی په هغه صورت کی ویزه راکول کیږی کله چی زه ددوی قوانین ومنم.
**(ت).**مکې اومدینې ته د ننوتلو لپاره ویزه داده چې د غومره ووایه (لا اله الا الله محمد رسول الله) یعنی بل خدای نشته مګرالله (ج) اومحمد (ص) دهغه رسول دی.

**(۱۱).د خنزیرغوښه منعه ګرځول شوی ده.**
**سوال :-**په اسلام کی ولی د خنځیر (سرکوزی) غوښه خوړل منع شوی ده؟
**:-جواب**
**. د سرکوزی غوښه په قرآن مجید کی منع ګرځوول شوی.۱**
په قرآ ن مجید کی (۴) ځایه د سرکوزی د غوښی د نه خوړولو په هکله ذکرشوی دی. (۲) سورة (۱۷۳) آیات، (۵) سورة (۳)آیات، (۶) سورة (۱۴۵) آیات، (۱۶) سورة (۱۱۵) آیات.
په دغه ځایونو کی په دی هکله آیاتونه راغلی دی (قرآن مجید (۵)سورة (۳) آیات).

حرام کړی شوی دی پرتاسی خوراک د مردار حیوان او د بهیدونکی وینی او د غوښی دخنزیر او دهر هغه حلال کړی شوی حیوان چه آواز کړی شوی وی بی له نامه د الله (دبل

شی) په هغه باندی د ذبحی په وخت کی او د خپه کړی شوی او د کوتک او د نورو وهلی شوی ........ ((قرآن مجید (۵)سورة (۳) آیات)).

دغه پورته آیات د یومسلمان دقناعت لپاره کافی دی.

**۲. د سرکوزی غوښه په انجیل شریف کی منع ګرځول شوی.**

یوعیسوی مذهبه به په اسانی سره د خپل مذهبی کتاب د هدایاتو سره سم په دی خبره باور وکړی چه د سرکوزی غوښه خوړل منع شوی ده. په انجیل شریف کی د (لیویتکیوس په کتاب کی) راغلی دی چی سرکوزی، که څه هم ښنګوری یې خلاص دی خو شخوند نه وهی. نو ځکه دده غوښه ستاسو لپاره حرامه ده. په بل ځای کی د (لیویتکیوس په۱۱ :۷-۸) راغلی، د سرکوزی غوښه مه خوری او حتی د سرکوزی لاښ (مړه جسد) ته به لاس هم نه ور وړی ځکه چی سرکوزی ناپاکه دی. په بل ځای کی د انجیل شریف د (ډیوترونومی په کتاب کی) راغلی دی چی د سرکوزی ښنګوری خلاص دی خو شخوند نه وهی دا ستاسو لپاره ناپاکه دی. دده غوښه به نه خوری او نه به یی لاښ (مړه جسد) ته لاس وروړی. (ډیوترونومی په۱۱ :۸-۷). په عین توګه نور آیاتونه هم په انجیل کی راغلی دی.

**. د سرکوزی دغوښی خوړلو څخه رازراز ناروغی پیدا کیږی. ۳**

برسیره پر مذهبی دلایلو کولای شو کافران په منطقی او ساینسی دلایلو سره قانع کړو چی د سرکوزی د غوښو د خوړولو له کبله (۷۰) ډول ډول ناروغی پیدا کیږی. د سرکوزی د غوښو خوړولو له کبله د معدی او کلمو چنجی پیداکیږی. چی یو د هغه جملی څخه (ټپ وارم) دی. ددغه چنجی هګی وینی ته داخلیږی او د انسان د بدن هر ځای ته ځان رسولای شی. که دغه هګی دماغ ته ننوزی په نتیجه کې کیدای شی چی انسان خپله حافظه له لاسه ورکړی. که دغه هګی زړه ته ننوزی د زړه د حملی سبب ګرځی، که چیری سترګوته ننوزی انسان ړندیدلای شی او که چیری هم ینی ته ننوزی نو د انسان اینه خرابوی. یو بل ډول خطرناکه مکروب چی د سرکوزی په غوښه کی پیداکیږی (تیچورا تیچوراسیس) نومیږی. د سرکوزی د غوښی په هکله یوه عامه غلط فهمی داده چی د سرکوزی غوښه ښه پخه شی نومکروبونه یی مری. په امریکا کې د یوه تحقیق په نتیجه کی معلومه شوه چه د هغو (۲۴) کسانو څخه چه د (تیچورا تیچوراسیس) په ناروغی اخته وه (۲۲) تنو یی د سرکوزی غوښه پخه خوړلی وه. نو له دی څخه معلومیږی چه دغه مکروبونه په عادی پخولو کی نه مری.

**۴. د سرکوزی غوښه د چاغ والی سبب ده.**

دسرکوزی غوښه خورا ډیر غوړ او لږ غوښه لری. دغه سپینه غوښه یا چربی په رګونو کی رسوب کوی او د وینی د لوړ فشار او د زړه د حملی سبب ګرځی. دا عجیبه نه ده چی د امریکا (٪۵۰) خلګ د وینی د لوړفشار په مرض اخته دی.

**۵.سرکوزی دنړی ترټولوزیات چټل حیوان دی.**

سرکوزی د نړی ترټولوچټل او نجس ځناور دی. سرکوزی ګند ګی، انسانی او حیوانی فضوله مواد خوری. سرکوزی د نړی ترټولو زیات خراب اومردار خوره حیوان دی. په کلیو کی چیرته چه د فضوله موادو د خوندی کولوعصری سهولتونه لکه تشنابونه نشته، سرکوزی دغه

فضوله مواد خوری. یوڅوک ښایی دا ووآیی چی امریکا خو پرمختللی هیواد دی او خلک یی عصری تشنابونه لری او همدارنگه سرکوزی په پاکو ځایونو کی خوندی کیږی. خو چی هرڅومره کوښښ وکړی سرکوزی پاک نشی ساتل کیدلای. سرکوزی په ډله ایزه توگه یوځای ساتل کیږی. سرکوزی د نورو سرکوزو چټلی پخپله خوری. سرکوزی فطرتاً مردار دی.

**۶.سرکوزی دنړی ترټولوبی شرمه حیوان دی.**

سرکوزی د نړی پر مخ یوازینی هغه حیوان دی چه نورسرکوزی راغواړی چه دده د ښځی سره جنسی عمل اجرا کړی. په امریکا کی اکثره خلک د سرکوزی غوښه خوری. امریکایان د ډانس د پروگرام وروسته خپلی ښځی سره بدلوی. یو سړی هغه بل ته وآیی چی ته زما د ښځی سره بیده شه او زه به ستا د ښځی سره. هرڅوک چی د سرکوزی غوښه خوری نو د سرکوزی په شا ن به عمل کوی.

**(۱۲).شراب منع دی.**

**سوال :-**په اسلام کی د شرابو چښل ولی منع اوحرام دی؟

**جواب :-** شراب د ډیرو پخوانیو زمانو راهیسی د بشری ټولنی د خرابی او بربادی سبب وو. نن ورځ هم شراب د بیشمیره انسانانو ژوند ته د پای ټکی ایږدی او د نړی په گوټ گوټ کی د انسانانود ناروغی او بربادی یوه آله جوړه شویده. په نړۍ کې د جنایاتو ورځ په ورځ زیاتوب، د عصبی ناروغانو ډیریدونکی شمیره او د میلینونو کورنیو د ویجاړیدو سبب همدا شراب دی.

**۱. شراب په قرآن مجید کی منع شوی دی.**

قرآن مجید په لاندی آیاتونو کی د شرابو د منع په هکله داسی وآیی.

> ای هغوکسا نو چه ایما نَ یی راوړی دی (موًمنانو) بیشکه هم دا خبره ده چه شراب ،قمار،بتان او غشی (فال ) دا ځلور واړه پلیت دی له کار د شیطان څخه ددی نو ځا ن وساتی تاسی له دی څخه له پاره ددی چه نجات ومومی تاسی .(قرآن مجید (۵)سورة (۹۰) آیات).

**۲. شراب په انجیل شریف کی منع شوی دی.**

د انجیل شریف په لاندنیودوآیاتونوکی دشرابوپه هکله داسی ویل شوی دی.

(الف). شراب په تاسی ملنډی وهی، شراب تاسو ته قهراو غصه درولی، او هرهغه څوک چی خطا وزی هوښیار نه دی . (پراورب ۱:۲۰)

(ب). اوپه شرابو مه نشه کیږی. (ایپیشینس ۱۸:۵)

**۳. شراب د انسان د د ماغ مرکزشنډ وی.**

د انسانانوپه دماغ کی یو داسی ځای شته چه د انسان د بدو افعالو مخنیوی کوی او انسان نه پریږدی چه هغه بد اعمال ترسره کړی چه دده په نظر غلط دی. د مثال په توگه یو نورمال سړی خپل مور او پلار ته سپکی خبری نه کوی. که انسا ن ته حاجت ورپیښ شی نو د خلکو په مینځ کی یا پر عامه لار باندی خپل ضرورت نه رفع کوی بلکه تشناب ته ځی. کله چه یوانسان شراب څښی نو شراب دا نسان دغه د کنټرول مرکز شنډ وی. نو هغه دی چی یونشه سړی به په داسی حالت کی ووینی چه په عادی حالت کی به یی تاسو هیڅ تصور نشی کولای. د مثال په توگه یو نشه سړی خپل مورا وپلار ته ښکنځل کوی او نه پوهیږی چه دی د خپل مور او پلار په مقابل کی غلطه ژبه کاروی. اکثره شرابیان په پرتوگ کی شاشی کوی. د خبرو او رفتار طریقه هم بد لوی.

**۴. په شرابیانو کی د زنا، پرخپلو اولاد و باندی جنسی تیری او د ایدز ناروغی کچه خورا زیاته وی.**

د امریکا د متحده ایالاتو د انصاف وزارت د کال (۱۹۹۶) دیوی سروی له مخی هلته هره ورځ په اوسطه توګه د جنسی تیری (۲۷۱۳) پیښی کیدلی. د احصا یې له مخې د جنسی تیری کوونکو یو لوی اکثریت د نشی په حالت کی وه. د احصایې له مخی د امریکا (۸٪) خلګ پر خپلو اولادونو باندی جنسی تیری کوی. په بله معنی د امریکا په هرو (۱۲ یا ۱۳) تنوکی یو تن په دغه وحشی عمل اخته دی. په دغه ټولو پیښو کی تقریباً ټوله یې د نشې په حالت کی ترسره شوی وه. د ایډز د خطرناکه ناروغی د خپریدلو یو ترټولو لوی عامل همدا شراب دی.

**۵. په شرابو هرمعتاد شخص په لومړی سر کی لږشراب چښل.**

ډیرخلګ ښایی ووایی چه موږ لږ اندازه شراب څښنو او خپل پرځان باندی پوره کنټرول لرو اوډیر نه نشه کیږو. خوپلټنو ثابته کړیده چه هر معتاد شرابی په اول سرکی لږ اندازه څښل. دشرابو هیڅ یو معتاد هم پدی نیت شراب نه وه پیل کړی چه تردی اندازی معتاد شی چه ځان ځینی ورک شی. هیڅ یو شرابی به دا ونه وایی چه دځو کلنوراهیسی شراب چښم اوحتی یو واریې هم نه یم نشه کړی.

**۶. که یو څوک حتی یو وار هم د شرابو څښلو له کبله نشه شی او یو بد اوبی حیا فعل وکړی نو دا عمل به دده سره ټول عمر ملګری وی.**

داسی فرض کړی چه د یوشرابی څخه د نشی په حالت کی یوازی اویوازی یوواری ځان ورک شو. پر پریدی شخص یا خپل د کورنی پر یوغړی یی جنسی تیری وکی . که څه هم کله چه دی د نشی د حالته ووځی پښیمانی به کوی خو دغه جنا یت اوتوره لکه به دعمر تر پایه دده سره ملګری وی. شرابی او دده د ګناه قربانی دواړه به نه جوړیدونکی ضرر ووینی.

**۷. شراب د پیغمبر علیه السلام په احادیثو کی منعه شوی دی.**

پیغمبر علیه السلام فرمایی.

**(الف).** شراب د ټولو بد بختیو مورده. اود ټولو بدو اعمالو ترټولوشرم آوره عمل دی.

(ابن ماجه ۳ جلد دنشی بحث حدیث ۳۳۷۱)

**(ب).**دهرهغه شی زیات استعمال چه نشه را مینځ ته کوی، لږاندازه استعمال یی هم منع دی.

(ابن ماجه ۳ جلد دنشی بحث حدیث ۳۳۹۲)

**(پ).** د الله (ج) لعنت نه یوازی پرشرابی باندی دی بلکه پر هغو انسانانو باندی هم دی چی د دوی سره په مستقیمه اویا غیرمستقیمه توګه رابطه لری.

(ابن ماجه ۳ جلد دنشی بحث حدیث ۳۳۸۰)

ابن ماجه د حضرت انس(رض) دخولی څخه روایت کوی چه پیغمبرعلیه السلام فرمایی:- د الله (ج) لعنت دی پرلسو ډلو د خلګو چه د شرابو سره سراوکار لری، هغه څوک چه د شرابو تصفیه کوی، پرهغه چا چه شراب ورته تصفیه کوی، هغه څوک چه شراب څښی، هغه څوک چه شراب راوړی، هغه څوک چه شراب ورته راوړل کیږی، پرهغه چا چی خلګو ته شراب ایږدی، پرهغه چا چی خرڅوی یی، پرهغه چا چې د شرابود پیسو څخه کاراخلی، پرهغه چا چی شراب رانیسی، اوپرهغه چاچی شراب د بل چا لپاره رانیسی.

**۸. د شرابود څښلو له امله ناروغی.**

دشرابو د منع کولو لپاره ډیرساینسی دلایل هم وجود لری. په نړۍ کی یو واحد لامل چی تر ټولو زیات شمیر انسانان وژنی هغه شراب دی. په نړی کی هرکال په ملینونو انسانان د شرابود چښلوله امله د مرګ قربانی کیږی. په لاندی لست کی دشرابود څښلو له امله د ځینو ناروغیوپه هکله معلومات درکړل شوی دی.

۱. د ا ینی کارپرېښودل د شرابو څښلوترټولوعمده اومشهوره ناروغی ده.
۲. د معدی سرطان، دستونی سرطان، دسرسرطان، دا ینی سرطان، د کلموسرطان،
۳. د مری زخم، د معدی زخم، د تریخی ناروغی، د زړی ناروغی.
۴. دزړه د عضلاتوناروغی، دوینی لوړفشار، دزړه د شریانوتنګیدل، دزړه حمله.
۵. فلج، ددماغ کار پریښودل، عصبی شوک.
۶. د جسم د اعضاوو د عصبی سیستم تخریب، دعصبی حجراتو له مینځه تلل او کار پریښودل، دحرام مغز کارپریښودل.
۷. حافظه له لاسه ورکول، د خیالی اوتصوره ډکه غیرواقعی حافظی درلودل.
۸. د ضروری ویټامینونو کمبود چه په نتیجه کی  د انسان عصبی اود هضمي نظام خرابیږی.
۹. لیونتوب.
۱۰. د پوستکی رازراز ناروغی، دجاغورناروغی.
۱۱. دوینی کمبود.
۱۲. په وینه کی د پلاټیلیټ کمبود.
۱۳. ځینی دواګانی د شرابوسره بدعکس العمل کوی لکه فلاجیل.
۱۴. د ناروغی سره مقاومت کمیږی.
۱۵. د سږو ناروغی.
۱۶. دشرابود چښلو په نتیجه کی انسان قی وهی او د ټوخی خود کاره نظام فلج کیږی. چی په نتیجه کی قی سږو ته ځی اود سږو ناروغی را مینځ ته کیږی.
۱۷. هغه بد اثرات چه شراب یی پر ښځو لری باید په غور ورته وکتل شی. دامیدواری په دوران کی شراب ددی بچی ته سخت زیات تاوان رسوی.
۱۸. د پوستکی ناروغی هم د شرابود څښولو څخه رامینځ ته کیږی.
۱۹.ایسزیما، الوپیشیا، نیل دیستروپی، پرونیشیا (د نوکانو شاوخوا د مکروبو یوځای کیدل) او انګولرستومایټس (مکروبی کیدل د خولی د کنجانو) هغه ناروغی دی چی په عامه توګه د شرابو د څښلو څخه پیدا کیږی.

**۹. شرابی توب یا په شرابو اخته کیدل پخپله یوه ناروغی ده.**

طبی ډاکټران نور شرابی ته معتاد نه بلکه د شرابو ناروغه وایی. اسلامی تحقیقاتی بنیاد یوه رساله خپره کړی چه په هغی کی یی لیکلی دی چی که چیری شراب یوه ناروغی ده نو دا یوازنی هغه ناروغی ده چه:

= په بوتل کی خرڅیږی.
= په اخبارونو، مجلو، راډیوګانو او تلویزونونو کی یې تجارتی اعلانونه خپریږی.
= ددغه ناروغی د خپرولو لپاره جوازموجود وی.
= دحکومت لپاره د مالیی په شکل ګټه راوړی.
= پر سړکانو د مرګ سبب ګرځی.

= دکورنی ژوند ویجاړوی اوجنایتونه زیاتوی.
= هیڅ ډول مکروب یا وایرس نه لری.

**شراب ناروغی نه بلکه د شیطان دلاس کاردی.**

الله (ج) په خپل بی انتها پوهی سره موږ ته د شیطان د دوکی اوچال په هکله اخطار را کړی دی. اسلام ته د فطرت دین اویا د انسان طبیعی دین هم ویل کیږی. د اسلام د ټولواحکامو هدف او مقصد د انسان د طبعی حالت خوندی کول دی. شراب په انفرادی اواجتماعی توګه د انسان دغه طبعی حالت بدلوی. شراب د انسان حیثیت اومقام ترهغوحیواناتو هم کښته کوی کوم چی دی یی تر ځان کم بولی. نوځکه شراب په اسلام کی منعه شوی دی.

**(۱۳).د شاهدانومساوات.**

**سوال :-** ولی دوی شاهدانی ښځی د یوه نارینه شاهد سره برابری دی؟

**جواب:-**

**۱. دوی ښځینه شاهدانی تل دیوه نارینه شاهدسره ندی برابری.**

په قرآن مجید کی دری آیاتونه داسی راغلی دی چه د شاهدانو ذکرپکی شوی دی چه نارینه او ښځینه یی ندی مشخص کړی.

**(الف)**.کله چی یومسلمان د میراث په هکله وصیت کوی دوه مناسب او نیک انسانان د شاهدانو په حیث غوښتل شوی دی.

> ای موُمنانو کله چی له تاسی نه د کوم چا د مرګ وخت را شی او هغه وصیت کوی نو د هغه لپاره د شاهدی نصا ب دادی چی له تاسی څخه دی دوه عادلان شاهدان ونیول شی.اویا که تاسی د پردیسی په حالت کی یاست اوهلته د مرګ مصیبت مخی ته راشی نو د غیرمسلمانانو څخه دی دوه شاهدان ونیول شی.................. (قرآن مجید (۵)سورة (۱۰۶) آیات).

**(ب).** د طلاق په وخت کی دی دوه کسان د انصاف کولو لپاره حاضرشی.

> .......او دوه داسی کسا ن شا هدان ونیسی چی له تاسی نه د عدل خاوندان یی.اوای شاهدانوشاهدی سمه د الله لپاره ادا کړی........ (قرآن مجید (۶۵)سورة (۲) آیات).

**(پ).** په یوی پاک لمنی ښځی باندی د بدکاری د تورلګولوپروخت څلوروشاهدانوته ضرورت دی.

> اوڅوک چه پر پاک لمنو ښځوتورولګوی بیا د خپل تور د ثبوت په خاطر څلور شاهدان تیر نه کړی هغوی ۸۰ دوری و وهی او د هغوشاهدی هیڅ کله مه منی او هغوی په خپله فاسقا ن دی.
> (قرآن مجید (۲۴)سورة (۴) آیات).

**۲. یوازی په مالی معاملا توکی د دوو ښځو شاهدانو حیثیت د یوه نارینه شاهد سره برابردی.**

دا خبره صحیح نه ده چی هروخت دوی ښځینه شاهدانی د یوه نارینه شاهد سره مساوی دی. په قرآن مجید کی تقریبا پنځه آیاتونه د شاهدانوپه هکله راغلی دی او نارینه یا ښځینه َیی ندی پکی مشخص کړی په قرآن مجید کی یوازی یوآیا ت داسی راغلی چه وآیی دوی شاهدانی ښځی د یوه نارینه شاهد سره مساوی دی.دغه آیا ت په سورة بقره کی آیا ت نمبر(۲۸۲)دی. دا دقرآن مجید تر ټولو اوږد آیات دی اود مالی معاملاتوپه هکله دی.

ای مؤمنانو کله چی د کومی ټاکلی مودی لپاره تا سی په خپلو منځو کی دپور دراکړی ورکړی معا مله کوی نو هغه ولیکی ددواړو ترمنځ یو څوک چی هغه ته الله د لیکولواهلیت ورکړی وی په انصاف سره سند ولیکی هغه دی د لیکولونه انکار نه کوی لیکنه او املا دی هغه څوک وکړی چی حق ورباندی دی. یعنی پوراخیستونکی اوهغه دی د الله یعنی خپله ربه وه بیریږی. چی څه معامله شوی وی په هغه کی دی کمی زیاتی نه کوی.خوکه پور اخیستونکی خپله نا پوه یا کمزوره وی.یا املا نشی کولای نود هغه ولی دی په انصاف سره املا وکړی.بیا د خپلو نارینه وو دوه تنه په شاهدان ونیسی.اوکه دوه سړی نه وی نوبیا یوسړی او دوه ښځی دی وی.که یوه َیی هیره کړی نو هغه بله به َیی ورپه زړه کړی. (قرآن مجید (۲)سورة (۲۸۲) آیات).

د قرآن مجید دغه آیات د مالی معاملاتو په هکله دی. پداسی معاملاتوکی مشوره ورکړل شوی د ه چه دواړی خواوی لیکلی قرارداد ولیکی او دوه شاهدان چه دواړه باید په ترجیحی توګه نارینه وی، غوښتل شوی دی. که چیری دوه نارینه پیدا نشی بیا نو دوی ښځی او یو نارینه به د شاهدانوپه توګه کافی وی. د مثال په توګه که یو سړی غواړی چه د یوی ناروغی د علاج لپاره جراحی (عملیات) وکړی نو ددی لپاره چه دا ناروغ ځان ډاډ من کړی چه ریښتیا هم عملیات ته اړتیا شته، دی به د دوو ماهرو جراحانو سره مشوره وکړی. خو که چیری هغه دوه قابل جراحان پیدا نکړی نو د یوه جراح او د دوو عادی ډاکټرانو څخه مشوره واخلی. همدارنګه په مالی معاملاتو کی دوو نارینوته ترجیح ورکول شوی ده. په اسلام کی نارینه د کورنی لپاره د پیسوګټونکی دی. دا چی د کورد پیسو او مالی چارو مسؤلیت پر نارینه باندی دی، نو دوی ترښځو په مالی معاملاتو کی ښه پوهه او بلدیت لری. خو یوه بله لاره بیا داده چه شاهدان یو نارینه او دوی ښځی وی ځکه که یوه ښځه خطا وزی هغه بله ښځه به یی اصلاح کړی یا ورپیاد به یی کړی. په دغه آیات کی عربی کلمه (تزیل) استعمال شوی چه معنی یی ده (وارخطا کیدل) یا (سهوه کول) ډیرو خلګو ددغه کلمې ترجمه (هیرول) لیکلی ده چه دا غلطه ده. نو ویلای شو چه یوازنی حالت چیری چه دوې شاهدانی ښځی د یوه نارینه شاهد سره مساوی دی هغه مالی معاملات دی.

**۳. حتی د قتل په معامله کی هم دوی ښځینه شاهدانی د یوه نارینه شاهد سره مساوی دی.**

ځینی علما په دی نظر دی چی د ښځو ښځینه احساسات کولای شی چی د قتل پر شاهدی باندی اغیزه وکړی. په داسی حالاتو کی ښځه تر نارینه زیاته په بیره او وهم کی وی. ښځه د خپلو احساساتو له کبله کیدای شی چی وارخطا یا مغشوشه شی. نوځکه د ځینو قاضیانو په نظر حتی د قتل په پیښو کی هم دوی ښځینه شاهدانی د یوه نارینه شاهد سره مساوی دی. په دی نورو حالاتو کی یوه ښځینه شاهده د یوه نارینه شاهد سره مساوی ده.

**۴. قرآن په واضح توګه سره وایی چی یوه ښځینه شاهده د یوه نارینه شاهد سره مساوی ده.**

ځینی علما په دی نظردی چه د دوو شاهدانو ښځو او یوه نارینه شاهد قانون باید په ټوله معاملاتو کی تطبیق شی. پردغه ټکی باندی موافقه نشی کیدلای ځکه چی په قرآن مجید کی سورة نور یوآیات په مشخصه توګه یوه ښځینه شاهده د یوه نارینه شاهد سره مساوی کړی ده.

.کوم کسان چی په خپلو میرمنو با ندی تورلګوی او دهغوسره په خپله دهغوله خپل څانه پرته بل کوم شاهد نه وی نوله هغونه دی یوتن شاهدی داوی چه هغه څلورځله په الله باندی په قسم خوړلوسره شاهدی ووا ُیی چه هغه په خپل تورویلو کی ربښتینی دی.(قرآن مجید (۲۴)سورة (۶) آیات)

**۵. د احادیثو د اعتبار لپاره د حضرت بی بی عایشی(رض) یوازی شهادت د منلو وړدی.**

حضرت بی بی عایشی(رض) چی د رسول کریم (ص) ماندینه وه (۲۲۲۰) احادیثو روایت کړی دی. دغه احادیث که څه هم چه یوازی ددی لخوا یې روایت شوی دی د اعتبار وړاو واقعی ګڼل کیږی. دغه کافی ثبوت دی چه د یوې ښځی شاهدی هم منل کیږی. ډیر داسی قاضیان شته چه وایی د میاشتی د لیدلو لپاره حتی دیوی ښځی شاهدی هم کافی ده. تاسی وګوری چه د اسلام د یوی بنا یعنی روژی لپاره د یوی ښځی شاهدی کافی ده. ځینی عالمان وایی چه د روژی مبارکی میاشتی لپاره د یوه کس شا هدی او د اختر د میاشتی د لیدلو لپاره د دوو کسانو شاهدی کافی ده او هغه هم هیڅ فرق نه کوی چه دا شاهدان دی نارینه وی یا ښځینه.

**۶. په ځینوحالاتو کی ښځینه شاهدانو ته ترجیح ورکول کیږی.**

په ځینو حالاتو کی یوازی د ښځو شاهدی قبلیږی او د نارینه شاهدی د منلووړنه وی. د مثال په توګه کله چه یوی مړې ښځی ته غسل ورکول کیږی شاهده باید یوازی ښځه وی. کوم غیرمساوات چه په مالی معاملاتو کی د ښځینه او نارینه شاهدانو ترمینځ لیدل کیږی هغه په اسلام کی د جنسیت د غیرمساوات په معنی ندی. هغه صرف په ټولنه کی د ښځو او نارینو د مسؤلیت اود فطرتونو د توپیرله امله دی.

**(۱۴).میراث.**

**سوال :-** په اسلامی قانون کی ولی د ښځی د میراث برخه د نارینه د میراث د برخی نیمایی ده؟

**جواب :-**

**۱. په قرآن مجید کی د میراث بیان.**

په قرآن مجید کی د میراث د ویش په هکله مشخص او تفصیلی هدایت راالیږل شوی دی . په دی لاند نیو قرآنی آیاتونو کی د میراث په هکله لارښوونی راالیږل شوی دی.

= سورة بقره آیت (۱۸۰)
= سورة بقره آیات (۲۴۰)
= سورة نسا آیات (۷ او۸)
= سورة نسا آیات (۱۹)
= سورة نسا آیات (۳۳)
= سورة المأیده (۱۰۶ تر۱۰۸)

**۲. دنژدی خپلوانولپاره په میراث کی مشخصی برخی.**

په قرآن مجید کی دری داسی آیاتونه شته چی د نژدی خپلوانو برخی یی پکی واضح کړیدی. سورة النسا آیات (۱۱،۱۲ او۱۷۶) ددغه آیاتونو ترجمه داسی ده.

ستاسو د اولادونو په باب الله تاسو ته لارښوونه کوی چه د نارینه وو برخه د دوو ښځوپه اندازه ده که د مړی وارثان د دوو نه زیاتی لوڼی وی نو هغو ته دی د ترکی د دریونه دوه برخی ورکړای شی او که صرف یوه لوروارث وی نو نیمأیی میراث د هغی دی که د مړی اولادونه وی نو دهغه مور او پلارهریوه ته دی شپږمه برخه ورکړای شی او که یی اولاد نه وی او وارثا نُ یی هم دا موراو پلار وی نو مورته دی دریمه برخه ورکړای شی او که د مړی ورورنه او خویندی هم وی نوموربه د شپږمی برخی حق داره وی دا ټولی برخی به هغه وخت بیلیږی چی که مړی وصیت کړی وی هغه پوره کړای شی او که پورپرباندی وی هغه ادا کړای شی تا سی نه پوهیږی چی ستاسی د

مور،پلاراوستا سی د اولادونه کوم یو د ګټې په لحا ظ درته نږدی دی دا برخې الله ټاکلی دی او په یقینې توګه الله له ټولو حقیقتونوڅخه خبر او په ټولو مصلحتونو پوهیدونکی دی.
(قرآن مجید (۴)سورة ،(۱۱) آیات).

.

اوستاسو ښځو چه څه پری ایښوی دهغه نیما ُیی برخه تاسی ته رسیږی که اولاد یی نه وی او که اولاد وی بیا د میراث څلورمه برخه ستا سی ده کله چه وصیت هغه کړی وی پوره کړای شی او د پور له ادا کیدو وروسته که پوره وړی وی او هغه به ستا سو د میرا ث د څلورمی برخی حق داره وی که بی اولاده وی او که ستا سی اولاد وی بیا د دهغی اتمه برخه ده وروسته د وصیت د پوره کولو نه که تا سی وصیت کړی وی او وروسته د پور د ادا کونو نه که پوره وړی وی او که هغه نارینه او ښځه چه د هغه میراث با ید وویشل شی که بی اولاده هم وی او مور او پلار یی هم ژوندی نه وی خویومورنی ورور یا مورنی خوریی موجود وی ورور او خور هریوه ته به شپږمه برخه ورسیږی او که ورونه او خویندی د یوه نه زیا ت وی نو د ټول میراث په دریمه برخه کی به هغوی ټول برخه وال وی وروسته د هغه ضرر نه رسونکی وصیت له پوره کیدونه چی کړی او له پور دادا کولو چی ور باندی وی دا د الله (ج) د لوری یو حکم دی او الله(ج) پوه، با خبره او نرم خویه دی.
(قرآن مجید (۴)سورة، (۱۲) آیات).

خللګ له تا څخه د کلاله په با ب فتوا غواړی ووایه الله(ج) تا سی ته فتوا درکوی که څوک بی اولاده ومری او د هغه یوه خور وی نوهغه به د هغه نیما یی میراث واخلی او که خوریی بی اولاده ومری ورور به د هغی وارث وی که د مړی وارثا ن دوی خویندی وی نو هغوی به د میراث د دریو برخو نه د دوو برخوحق داره وی او که ډیر ورونه او خویندی وی نو هر نارینه به دهری ښځی په تنا سب دوه چنده برخه وی الله(ج) تا سی ته حکمونه تشریح کوی ترڅو چی تاسی لارورکی نه شی او الله(ج) په هرشی پوه دی. (قرآن مجید (۴)سورة، (۱۷۶) آیات).

**۳. په ځینو حالاتو کی ښځه د نارینه په شان او یا تر نارینه ډ یره برخه وړی.**

په اکثره اوقاتو کی د ښځی د میراث برخه د نارینه د میراث د برخی نیمایی وی. خودا تل یوډول نه وی. که چیری د وفات شوی شخص هیڅ اولاد نه وی پاته او نه یی هم موراو پلار پاته وی او یوه خور او یو ورور یی پاته وی، هر یوه ته د میراث د مال یوه پرشپږمه برخه رسیږی. که چیری وفات شوی شخص اولاد ولری په داسی صورت کی یی موراو پلار ته په مساوی توګه هریوه ته یوه پر شپږمه برخه رسیږی. په ځینو حالاتو کی ښځه د نارینه دوه برابره برخه لری. که چیری وفات شوی شخص یوه ښځه وی او هیڅ اولاد اونه هم خوراو ورور ولری او یوازی یي میړه، موراو پلار پاته وی نو پداسی حالت کی یی میړه په میراث کی نیمه برخه لری. مور یی یوه پردریمه برخه لری او پلار یی باقی پاته یوه پرشپږمه برخه لری. په دغه حالت کی مورد پلار په نسبت دوه برابره برخه لری.

**۴. په عمومی توګه په میراث کی د ښځی برخه د نارینه د نیمایی برخی په اندازه وی.**

دا واقیعت دی چی په ډیرو وختونو کی په عمومی توګه په میراث کی د ښځی برخه د نارینه د نیما یی برخی په اندازه وی د مثا ل په توګه.
= په میراث کی د لور برخه دزوی د برخی نیمایی وی.

= په میراث کی د ماندینی برخه ۸/۱ وی او د میره برخه ۴/۱ وی په داسی حالت کی چه اولاد نه لری.
= په میراث کی د ماندینی برخه ۴/۱وی او د میره برخه ۲/۱ وی په داسی حالت کی چه اولاد لری

**۵. په میراث کی د نارینه برخه د ښځی د برخی دوه برابره ځکه ده چی نارینه د کورنۍ سرپرست اومالی ګټونکی دی.**

په اسلام کی ښځه مالی مسؤلیت نه لری. اود کورنی اقتصادی مسؤلیت د نارینه پر غاړه دی. د واده مخکی د ښځی د ساتنی، لباس، خوراک او هستوګنی مسؤلیت د هغې د پلار او وررور پرغاړه وی. تر واده وروسته د ښځی دا مسؤلیت د میره او یا زوی پر غاړه کیږی. اسلام نارینه مسؤله کړی دی چه د کورد ژوندانه ضرورتونه بشپړه کړی. نو ددی لپاره چه نارینه ټوله دغه ضرورتونه پوره کوی نو ده ته په میراث کی دوی برخی ورکولی شوی دی. دمثال په توګه که چیری یوسړی مړشی (۱۵۰۰۰۰) روپی د میراث په توګه پریږدی او دی یوه لوراو یو زوی ولری. نو زوی ته (۱۰۰۰۰۰) او لورته (۵۰۰۰۰) ورسیږی. ددغه (۱۰۰۰۰۰) روپیو څخه به دا سړی ټولی پیسی یا داسی به وواېو چه (۸۰۰۰۰) خپل د کور پر خرڅ باندی مصرف کړی. ځکه چی دی د کورد ضرورتونو د پوره کولو لپاره مسؤله ګرځول شوی او ده ته به د ځان لپاره ډیر لږ مقدار پیسی پاته شی . د بلی خوا لورته چی کومی پیسی رسیدلی دا هیڅ مجبوریت او مسؤلیت نلری چی حتی یوه روپی یې هم مصرف کړی. دا کولای شی چی ټولی پیسی د ځان لپاره وساتی زما په فکر سره ښځی د میراث په معامله کی ترنارینه زیات په ګټه کی دی.

**(۱۵).آیا قران مجید د الله(ج) کلام دی؟**

**سوال :-** ځنګه ثابتولای شو چی قرآن مجید د الله (ج) کلام دی؟

**جواب:-**

**(۱۶).پسله له مرګه ژوند.**

**سوال :-** څرنګه کولای شی چې تر مرګه وروسته بیا ژوندی کیدل په اثبات ورسوو؟

**جواب:-**

۱.له مرګ وروسته پر ژوند باندی ایمان په ړندو سترګو پر یوشی باندی ایمان راوړل ندی.

ډیر خلګ دی ته حیران دی چی یو شخص چی ساینسی او منطقی پوهه ولری څرنګه کولای شی چه تر مرګ وروسته پر ژوند باندی باور وکړی. خلګ په دی باور دی هغه څوک چه تر مرګ وروسته په بیا ژوندی کید لو باندی ایمان لری، داسی دی لکه په پټوسترګو چه پر یو شی باندی عقیده کوی. خو تر مرګ وروسته په دوباره ژوند باندی زما عقیده پرمنطقی دلایلو باندی ولاړه ده.

**۲.تر مرګ وروسته بیا ژوندی کیدو یوه منطقی عقیده.**

په قرآن مجید کی تر زرو زیات داسی آیاتونه شته چه ساینسی حقایق پکی دی. لطفاً زما کتاب چه (قرآن اوعصری ساینس موافق که غیرموافق) نومیږی وګوری. په قرآن مجید کی داسی ډیر حقایق او واقیعتونه شته چه په تیرو پیړیو کی کشف شوی دی. خو ساینس دومره پرمختګ نه دی کړی چه د قرآن مجید هرآیات په اثبات ورسوی. فرض کړئ چی (٪۸۰) حقایق چه په قرآن کی ذکرشوی دی، سل په سل کی صحیح ثبوت شوی دی. پاته (٪۲۰) حقایقو په هکله ساینس یومخ فیصله نشی کولای ځکه چی ساینس هغه اندازی ته پر مختګ ندی کړی چی دغه حقایق ومنی اویا یی رد کړی. د هغه محدودی پوهی له مخی چه موږ یې لرو موږ په اطمینان سره نشو ویلای چه ددغی (٪۲۰) پاته برخی

څخه یوآیات او یا (۱٪) یې غلط او غیرواقعي دی. نو په داسی حال کی چی د قرآن مجید (۸۰٪) حقایق سل په سله کی صحیح دی او پاته (۲۰) یې نه دی رد شوی، منطق داسی وایی چی دا پاته (۲۰٪) یې هم صحیح دی. پسله مرګه ژوند په دغه مبهم (۲۰٪) برخی کی راځی اوزما منطق وایی چه دا خبره هم صحیح ده.

**۳.د <u>امن او انسانی ارزښتونو مفکوره د پسله مرګه ژوند د مفکوری پرته بی معنی ده.</u>**
آیا غلا کول یوښه اوکه بد عمل دی؟ د نورمال او سالم عقل خاوند به ووایی چه دا یو بد عمل دی. څرنګه به یو شخص چه په آخرت باندی باورنلری یوه غښتلی او بااثره غله ته قناعت ورکړی چی غلا یو بد عمل دی. فرض کړئ زه د نړئ ترټولوغښتلی او با اثره غل یم. په عین حال کی زه یو هوښیار او معقول سړی یم. زه وایم چی غلا کول یو ښه عمل دی. ځکه زه خوشحاله ژوند پری تیرولای شم. ځکه غلاکول زما لپاره یوښه عمل دی. که تاسی ماته معقول او منطقی دلیل وړاندی کړی چه غلا کول یوبد عمل دی، زه به یی پریږدم. خلګ اکثره وخت ماته دغه لاندی دلایل وړاندی کوی.

**(الف)<u>. د کوم شخص څخه چی ته مال غلا کوی، هغه به د ستونزو سره مخامخ شی.</u>**
ځینی خلګ وایی چی د کوم شخص څخه چه مال غلا کیږی هغه د ډیرو ستونزو سره مخامخ کیږی. زه هم دغه وایم چه غلا به د هغه شخص لپاره چی مال تری غلا کیږی بد دی. خو زما لپاره یوښه عمل دی. که زه زرډالره غلا کړم زه به په ښه رستورانت کی ډوډی وخورم او خوند به پر واخلم .

**(ب). <u>که ته د نورو څخه غلاکوی نو خلګ به ستا څخه غلا وکړی.</u>**
ځینی خلګ وایی چی کیدای شی نور خلګ زما څخه غلا وکړی. نه هیڅوک زما څخه غلا نشی کولای. ځکه چی زه ډیرغښتلی یم او ډیر ساتونکی لرم. غلاکول به د یو عادی شخص لپاره یو خطرناکه عمل وی. خو زه ډیر با اثره سړی یم. او زه هیڅ ویره نه لرم.

**(پ). <u>خلګ وایی چه که ته غلا کوی یوه ورځ به دی پولیس ونیسی.</u>**
پولیس ما نشی نیولای ځکه چه زه پولیسو ته پیسی ورکوم. زه وزیرانوته هم پیسی ورکوم. که یوعادی سړی غلا وکړی نو پولیس به یی ونیسی. خو زه ډیر با اثره سړی یم. او څوک ما نشی نیولای.

**(ت). <u>غلاکول خومفتی پیسی دی.</u>**
ځینی خلګ وایی چه د غلا پیسی خو مفتی پیسی دی او پدی کی د انسان هیڅ زیار اوزحمت نه دی شامل. زه هم پدی پوهیږم چه د غلا پیسی مفتی پیسی دی او همدغه یواساسی دلیل دی چه زه غواړم غلاوکړم. که ستا په مخ کی د پیسو ګټلو سخته او آسانه لاروی نو تاسی به حتما اسانه لار انتخاب کړی.

**(ث). <u>غلا کول د انسانیت ضدعمل دی.</u>**
ځینی خلګ وایی چه غلاکول د انسانیت ضد عمل دی او یوانسان باید د بل انسان فکر وکړی. زما ځواب دادی چه دا د انسانیت قانون چا جوړکړی دی؟ اوولی یی باید زه پیروی وکړم؟ دغه قانون به د احساساتی او جذباتی خلګو لپاره ښه وی. خو زه په احساساتو نه بلکه په منطق باندی باور لرم. او زه په دی کی هیڅ ګټه نه وینم چی د نورو انسانانو غم هم پر سر واخلم.

**(ج). غلا کول د  خود خواهی  عمل دی.**
ځینی نورخلک بیا وایی چی غلا کول د خودخواهی او خود طلبی عمل دی. زه هم په دی پوهیږم  چه دا د خودخواهی عمل دی. خو زما دا خودخواهی خوښه ده ځکه په دی توګه سره زه کولای شم  چه دخپل ژوند څخه خوند واخلم.

**۱.غلا ته د بدو ویلوهیڅ منطقی دلیل نشته.**
پدی توګه  ټوله هغه دلایل چی دا ثابت کړی چه غلا کول یو بد عمل دی بی ځایه دی. دغه دلایل کولای شی چی یوعادی شخص ته قناعت ورکړی. خو زما په شان یو منطقی او با اثره غله ته قناعت نه راکوی. هیڅ یو ددغه دلایلو څخه پرمنطق او عقل نه دی ولاړ. زما په شان نور جنا یت کاران هم شته چه جنسی تیری کوی. خلګو ته فریب ورکوی، او داسی نور. او د ټولو په نظر دا ددوی لپاره ښه عمل دی. او هیڅ منطقی دلیل دوی نشی قانع کولای چه ددغو اعمالو څخه لاس واخلی.

**۲.یومسلمان کولای شی چه یو غبنتلی او بااثره مجرم ته قناعت ورکړی.**
اوس راسی چه خپل رول بدل کړو. فرض کړی چی تاسی د نړۍ ترټولو غښتلی او با اثره جنابت کاره یاست او پولیس او وزیران ستاسی په تنخوا چلیږی. همدارنګه ته د بدماشانو یو پوځ لری چه ستا ساتنه کوی. زه مسلمان یم او تاته به قناعت درکړم چه غلا کول، جنسی تیری او خلګو ته فریب ورکول دا ټوله غلط عملونه دی.

**۳. هرانسان عدل اوانصاف غواړی.**
که چیری دی د بل چا لپاره دغه عدل او انصا ف نه غواړی، خو بیا هم غواړی چی پخپله ده ته انصاف ورسیږی. ځینی خلګ د زور او قدرت په نشه کی غرق دی او نورو خلګو ته عذاب او  تکلیف وررسوی. خو که چیری د همدغو خلکو سره لږ څه بی انصافی هم وشی نو دوی به سخت مخالفت ښکاره کړی. دا انسانان د نورو خلکو د تکلیفونو په هکله ځکه بې احساسه شوی دی چی دوی خپل د قدرت او اثر په عبادت باندی بوخت دی. ددوی په فکر قدرت اواثر او نفوذ نه یوازی دوی پر دې باندی توانوی چی پر نورو خلکو باندی ظلم وکړی بلکه په دی  کارسره به دوی خپل ځان د نورو د ظلم او بی انصافی څخه هم ژغورلی وی.

**۴.الله (ج) تر ټولوقدرتمند او عادل دی.**
زه په حیث د یو مسلمان کولای شم چی  یومجرم په دی قانع او واداره کړم چی الله(ج) شته. زه به ورته ووایم چی دغه خدای تر تا ډیرقدرتمند خو په عین حال کې عادل هم دی. په قرآن مجید کی راغلی دیږ.

| |
|---|
| الله (ج) پر هیچا د یوی ذری په اندازه ظلم نه کوی........ **(قرآن مجید (سورة(۴) آیات (۴۰))** |

**۵.ولی الله (ج) ماته سزا نه راکوی؟**
یومجرم سړی، چی یو بامنطقه او پوه سړی دی، د هغه ساینسی شواهدو پر اساس چی په قران مجید کې ښکاره شوی دی کیدای شی چی دا ووایی چی الله (ج) دومره قدرتمند او عادل دی نو ولی ما ته سزا نه راکوی؟

**۶. هغه کسا ن چی بې انصافه وی هغوی ته با ید سزاورکړل شي.**

هرسړی چی بی انصافی ورسره شوی وی، پرته د نظر کې نیولو د هغه داقتصادی او یا اجتماعی مقام، یقیناً دا غواړی چی د بی عدالتی مرتکبینوته دی سزا ورکول شی. هر نورمال سړی غواړی چی غله او جنسی تیری کوونکی ته باید د هغه د جرم سزا ورکړل شی. که څه هم ډیرو مجرمینو ته د خپل جرم سزا ورکول شوی ده خو داسی انسانان هم شته چی د قانون د منګلو څخه خلاص شوی دی او ښه خوشاله او آرام ژوند تیروی. که چیری د یو قدرتمند او با اثره سړی سره د یوبل سړی لخوا هم دغه ډول وشی چی تر ده هم با قدرته او با اثره سړی وی بی انصافه سړی به هم ددی غوښتنه لری چی هغه سړی چی دده سره یی بی انصافی کړی ده باید سزا ورکول شی.

**۷. زموږ ژوند د آخرت لپاره یوامتحان دی.**

دغه ژوند د آخرت لپاره یوامتحان دی.قرآن مجید وآیی.

هغه ذات چی مرګ او ژوند یی پیدا کړتر څوچی تا سی وازما یی وګوری چه له تا سی نه کوم یو د ډیر ښه عمل کوونکی دی او هغه زورور هم دی ام بخښونکی هم .

(قرآن مجید (۶۷)سورة، (۲) آیات).

**۸.آخری انصاف به دقیامت په ورځ وی.**

قرآن مجید فرمایی چی.

په پا ی کی هرڅوک د مرګ خوند څکونکی دی او تا سی ټول د قیا مت په ورځ د خپلو خپلو پوره اجرونو میندونکی یاست بریالی اصلا هغه څوک دی چه هلته د دوزخ له اوره وژغورل شی او جنت ته ننه ایستل شی پا ته شوه دا دنیا دا خوصرف یو غولونکی شی ده.

(قرآن مجید (۳)سورة، (۱۸۵) آیات).

آخری انصاف به د قیامت په ورځ وشی.کله چی یو انسان مړ شی نو دی به بیرته د نورو انسانانو سره راژوندی شی. ددې امکان شته چی یوشخص د خپلو بدو اعمالو دسزا یوه برخه پدی ژوند کی ووینی. خو آخری سزا اوجزا به په وروستی ژوند کی وی. الله (ج) ښایی په دی ژوند کی یوجنایت کارته سزا ورنه کړی. خو دقیامت په ورځ به هرومرو حساب ورسره کیږی. او په دوهم ژوند کی به د خپلو اعمالو سزا و وینی.

**۹.هټلر ته به په انسانی قانون کومه سزا ورکړی؟**

هټلر خپل ددهشت د پاچاهی په وخت کی (۶ میلیونه) یهودیان وسوځل. حتی که هټلر ګرفتارشوی هم وای انسانی قانون به د انصاف د راوستلو لپاره ده ته کومه سزا ورکړی وای؟ تر ټولو غټه سزا بهَیی دا وای چی دی به یی هم په هم هغه اور کی سو ځلی وای. خو دا به د یوه یهودی دوژلو سزاوای. د پاته یهودیانو د وژلوسزا به یی څرنګه ورکړې وای؟

**۱۰.الله (ج) کولای شي چه هټلر تر (۶ میلیونو) واره زیات د دوزخ په اور کی وسوځوی.**

الله(ج) په قرآن مجید کی فرمایی

کومو خلکو چی زموږ د آیاتونود منلوڅخه انکار کړی دی هغوی به هرومرو موږ اورته ننه باسو او کله چی د هغوی د بدن پوستکی وسوزل شی نو دهغوی پرځای به نور پوستکی ورکړوتر څو چه

هغوی د عذاب خوند ښه وڅکی الله ډیرزورور دی او د خپلو فیصلودعملی کولو په حکمت ډیر ښه پوهیږی. (قرآن مجید (۴)سورة، (۵۶) آیات)

که الله (ج) وغواړی دی کولای شی چه پسله مرګه په ژوند کی یی (۶ میلیونو) زیات واره ددوزخ په اورکی وسوځی.

**۱۱.دانسانی ارزښتونو، دښه اوبدو مفکوره د پسله مرګه ژوندی کیدلو د مفکوری سره تړلی ده.**

دا واضح ده چه ترڅو یو شخص ته تر مرګ وروسته د بیا ژوندی کیدلو قناعت ورنکړی د انسانی ارزښتونو مفکوره اود اعمالو ښه والی او بدوالی به امکان ونلری چی په اثبات ورسول شی خصوصاً د هغه چا لپاره چه ډیر قدرتمند او بااثره وی.

**(۱۷).ولی مسلمانان په مختلفو فرقو ویشل شوی دی؟**

**سوال :-**که چیری ټوله مسلمانان پریوه او همدغه قرآن باندی ایمان لری اوعملی کوی یی نوبیا د مسلمانانو په مینځ کی ولی دومره زیاتی فرقی اومختلف نظریات اومسلکونه دی؟

**جواب:-**

**۱.مسلمانان باید یوشی.**

دا یو واقیعت دی چی نن ورځ مسلمانان پرډلو ویشل شوی دی. د بدبختی خبره داده چه دغه ډلی ډلی کیدل واسلام ته د منلو وړندی. اسلام د ټولو مسلمانانو اتحاد او یوځایوالی غواړی. قرآن مجید کی راغلی دی.

ټول یو ځا ی شی د الله رسی کلکه ونیسی او تیت پرک کیږی مه ...........
(قرآن مجید (۳)سورة، (۱۰۳) آیات).

په دغه آیات کی د الله(ج) درسی څخه مطلب کومه رسی ده؟ ددی څخه مطلب قرآن پاک دی. د الله (ج) رسی قرآن پاک دی چه ټوله مسلمانان یی باید ټینګه ونیسی. په دی آیات کی تاَکید دوه وار شوی دی. د الله (ج) رسی په کډه سره ټینګه ونیسی. اوتفرقه مه اچوی. اوهمدارنګه قرآن مجید په یوبل ځای کی فرماَیی.

ای مومنانو د آلله ، رسول او هغو کسا نواطاعت وکړی چی له تاسی نه د امرخاوندان وی.......
(قرآن مجید (۴)سورة، (۵۹) آیات).

ټوله مسلمانان باید د قرآن په همدی آیاتونو اود صحیح احادیثو پرهدایاتوعمل وکړی اوپه ډلو دی نه ځی.

**۲.په اسلام کی ډلی جوړول اوتفرقه اچول منع دی.**

قرآن مجید فرماَیی

کوموخلکو چه خپل دین ټوټه ټوټه کړاوډلی ډلی شول په یقینی توګه له هغوسره ستا هیځ اړیکه نشته د هغومعا مله الله ته سپا رلی ده هم هغه به هغوی ته وښهَیی چه هغو څه کړی.
(قرآن مجید (۶)سورة، (۱۵۹) آیات).

الله(ج) فرماَیی چه تاسو باید د هغوخلګو سره یوځای نشی چه خپل دین تقسیم وی او پرمختلفو ډلو یی ویشی.

**۳.زموږ پیغمبر علیه اسلام مسلمان وو.**

که څوک ددغه فرقه پرست مسلمانانو څخه پوښته وکړی چه زموږ پیغمبرعلیه السلام څوک وو؟ آیا هغه حنفی وو که شافعی، که حنبلی یا مالکی؟ نه هغه یومسلمان وو لکه څرنګه چی له ده نه مخکی ټوله پیغمبران مسلمانان وه. دقرآن مجید په (سورة نور آیات (۵۲) کی راغلی چه عیسی علیه السلام مسلمان وو. همدارنګه په (۳ سورة آیات (۶۷) کی راغلی چه ابراهیم علیه السلام نه یهودی او نه عیسوی وو بلکه مسلمان وو.

**۴.قرآن مجید وآیی خپل ځانونو ته مسلمانان وواياست.**

(الف). که یوڅوک د مسلمان څخه پوښته کوی چه ته څوک یی؟ هغه باید ووآیی چه زه مسلمان یم. په (سورة فصیلت آیات (۳۳)د قرآن مجید کی راغلی.

| |
|---|
| اود هغه چا له خبری نه به ښه خبره د بل چا وی چی هغه د الله خواته بلنه ورکړه او نیک عمل یی وکړی او وویل چی زه مسلمان یم. (قرآن مجید (۴۱)سورة، (۳۳) آیات). |

قرآن مجید وآیی (ووایه چه زه د هغوخلګو د جملی څخه یم چه اسلام یی قبول کړی دی) په بله معنی ووایه چه زه مسلمان یم.

(ب). پیغمبر علیه لسلام غیرمسلم پاچاهانو او حاکمانوته خطونه ولیږل او دوی یی اسلام ته رابلل. په دغوخطونو کی پیغمبرعلیه السلام د (سورة آلعمران آیات (۶۴) ذکر ورته کړی وو.

| |
|---|
| ........چی شا هدان اوسی موږ خو مسلما نان یعنی یوازی د الله بنده ګی کوونکی او اطاعت کونکی یو.(قرآن مجید (۳)سورة، (۶۴) آیات). |

**۵.داسلام د غټوعلماؤ احترام وکړئ.**

موږ باید د اسلام د ټولو لویو علماؤ احترام وکړو. په شمول د څلورو امامانو لکه امام ابوحنیفه، امام شافی، امام حنبل اوامام مالک. دوی ټوله غټ عالمان وه او آلله (ج) دی پرټولودوی باندی رحم وکړی او آلله (ج) دی دوی ته دخپل زیار او تحقیق اجرورکړی. که یوڅوک د امام ایوحنیفه یا امام شافعی اویا نورو د تحقیق او نظریاتو سره موافقه کوی د نورو لخوا باید هیڅ مخالفت موجود نه وی. کله چی ستاسو څخه پوښتنه وشی، باید په ځواب کی وواياست چه زه مسلمان یم. ځینی خلګ د پیغمبر علیه السلام دهغه حدیث حواله ورکوی چه (ابوداؤد حدیث (۴۵۷۹)دی. په دغه حدیث کی پیغمبر علیه السلام فرمآیی (زما امت به په ۷۳ ډلووویشل شی) ددغه حدیث له مخی پیغمبرعلیه السلام پیش ګوَیی کړی وه چه مسلمانان به په (۷۳) ډلو وویشل شی. خو ده نه دی ویلی چه مسلمانان باید خپل ځانونه په ډلو وو یشی. قرآن مجید موږ ته هدایت کوی چه موږ باید ځانونه پر ډلو باندی ونه ویشو. هغه مسلمانان چه د قرآن مجید او صحیح احادیثو پر لاښوونو باندی عمل کوی او ډلی نه جوړوی، هغوی پرسمه لار روان دی. د (ترمذی د ۱۷۱ حدیث) مطابق، پیغمبر علیه السلام وفرمایل (زما امت به په ۷۳ ډلوباندی وویشل شی، او دیوې ډلی پرته نوری ټولی ډلی به ددوزخ په اورکی وسوځی. د پیغمبر علیه السلام یارانو دده څخه وپوښتل چه هغه یوه ډله به کومه یوه وی؟ پیغمبر علیه السلام ورته وویل دا هغه ډله ده چه زه او زما یاران هم په دغه ډله کی یو. قرآن مجید په څوځوواری سره امرکړی چه (اطاعت وکړی د الله (ج) اواطاعت وکړی د رسول(ص)) یو ریښتنی مسلمان باید یوازی د قرآن مجید او صحیح احادیثو پیروی وکړی. مسلمانان باید دهغه عالم د نظریاتو سره موافقه وکړی چه د قرآن مجید او پیغمبرعلیه السلام د تعلیماتو سره مطا بقت ولری. خو که چیری دغه نظریات د الله (ج) د

کلام اوپیغمبر علیه السلام د احادیثو سره مخالفت ولری نو هیڅ معنی اواهمیت نلری. که څه هم دغه عالم به د ډیر پراخ علم خاوند وی. که چیری ټوله مسلمانان یوازی قرآن مجید په ډیره ښه پوهه او د پیغمبرعلیه السلام صحیح احادیث په معنی سره ووآیی نو انشاً الله ډیر دغه اختلافات به حل شی او موږټوله به یو متحد امت شو.

**<u>(۱۸).ټوله مذهبونه موږ ته د ښواونیکو اعمالوهدایت کوی، نو ولی باید یوازی داسلام دین عملی کړو؟</u>**

**<u>سوال:-</u>** ټوله مذهبونه موږ ته د نیکواعمالولارښوونه کوی، نو ولی باید یوازی داسلام دین عملی کړو؟ آیا موږ د نورو مذهبونو څخه استفاده نشوکولای؟

**<u>جواب:-</u>**

**<u>۱.داسلام او نورو مذهبونو تر مینځ عمده توپیرونه.</u>**

ټوله مذهبونه انسانانوته د ښواعمالود کولو او د بدو اعمالو څخه د ځان ژغورلو هدایت کوی. خو اسلام له دی نه علاوه څه نور هم غواړی. اسلام موږته هدایت کوی چه څرنګه په عملی توګه سره نیکی ترلاسه کړو او څرنګه په انفرادی او اجتماعی توګه سره خپل ژوند څخه بدی له منځه یوسو. اسلام ته د انسان فطرت او د انسانی ټولنی مغلق والی ډیر مهم دی. اسلام د خالق یا پیداکونکی لخوا یو هدایت دی. نوځکه اسلام ته دین الفطره یا د انسان فطری مذهب هم وا یی.

**<u>۲.اسلام غلا کول منع کوی اوهمدارنګه دغلا د له منځه وړلو لپاره طریقی هم راته په ګوته کوی.</u>**

**<u>(الف):- اسلام دغلا د مخنیوی لباره طریقی په ګوته کوی.</u>**

دنړی ټول لوی مذهبونه انسانانو ته هدایت ورکوی چه غلاکول یوبد عمل دی. او اسلام هم دغه وا یی نوبیا د اسلام او نورو مذهبونو ترمنځ توپیر څه دی؟ توپیر دادی چه اسلام سربیره پردی چه غلاکول منع کوی، موږ ته په عملی توګه دیوه داسی اجتماعی سیستم د جوړولو لار راښیی چیری چه خلک به غلا نه کوی.

**<u>(ب):- اسلام د زکات ورکولوامرکوی.</u>**

اسلامی قانون امر کوی چه هرمالک دنصاب یعنی هغه څوک چه تر(۸۵) ګرامه زیات سره زر ولری باید دکاله (۲.۵٪) ددغه ملکیت څخه دزکات په توګه ورکړی. که چیری هرشتمن سړی په اخلاص سره خپل زکات ورکړی نو د نړی پرمخ به هیڅ غریب نشی پاته. هیڅوک به له لوږی مړنشی.

**<u>(پ):- دغلا د سزا په توګه دلاس پری کول.</u>**

اسلام امرکوی چی د غله لاس دی پری کړل شی. قرآن مجید په سورة ماَیده کی فرمایی.

| |
|---|
| اوغل که ښځه وی او که نارینه د دواړولاسونه پری کړی.دا د هغو د خپلی ګټی بد له ده او د الله له لوری د عبرت وړ سزاً د الله قدرت پرټولوغا لب دی او هغه د پو هی او حکمت څښتن دی. (قرآن مجید (۵)سورة، (۳۸) آیات). |

یوکافربه ښا یی ووایی چه په یوویشتمه پیړی کی د انسانانو د لاسونو پریکول یوځنګلی اوغیرمدنی قانون دی.

**(ت):- داسلامی شریعت په عملی کولوسره نتیجی ترلاسه کیږی.**

امریکا دنړی تر ټولو پرمختللی هیواد دی. او بدبختانه په امریکا کی دغلا، لوټ او نورو جنایاتو اندازه ډیره جګه ده. فرض کړی په امریکا کی شرعی قانون عملی کیږی. او هرشتمن سړی زکات ورکوی. او دغله لاس پری کیږی. آیا په امریکا کی به د جرمونواوغلاوو اندازه

پورته ولاړه شی؟ پرخپل ځای به پاته شی؟ اوکه به ټیټه شی؟ طبیعی خبره ده چه دغلاوو اندازه به کښته راشی. سر بیره پردغه ددغه قانون پلی کول به ډیرانسانان د بدولاروڅخه راوګرځوی. زه په دی پوهیږم چی نن ورځ په نړی کی په دومره زیات شمیرغلاوی او لوټ مار روان دی چه که چیری د هرغله لاس پری شی. نو په لسګونوزره تنه به بی لاسه پاته شی. خو خبره په دی ځای کی ده چه کله دغسی قانون پلی شی په هم هغه وخت به د جنایتونو اندازه کښته شی. که څوک غواړی چه غلا وکړی نو مخ کی ترغلا کولو به پدی هکله زیات غوروکړی که نه نو دده لاس به هم پری شی. صرف ددغه راز سزا په هکله فکرکول به هم خلګ دغلا څخه منع کړی. ډیر لږ داسی کسان به پیدا شی چه په غلا کولولاس پوری کړی. نوپه دی ترتیب د ډیرولږو انسانانو لاسونه به پری کړل شی. او نور پاته انسانان به په ښه ډاډمن زړه او امنیت کی ژوندوکړی. او دغلا تشویش به نه وی ورسره. نو موږ ویلای شو چه اسلامی قانون د عملی کیدلو وړدی اونتیجه هم ورکوی.

**۳.مثال :-اسلام دښځوځورول او برهغو جنسی تیری منع ګړی دی. اسلام د حجاب سپارښتنه کوی. او د جنسی تیری کوونکی لپاره دسزاامرکوی.**

**(الف):-**اسلام د ښځوځورول او پرهغوی دجنسی تیری کولو دمینځه وړلولپاره امرکوی.

د نړی ټول لوی مذهبونه د ښځو ځورول او پر هغوی باندی جنسی تیری کول غټه ګناه ګڼی. اسلام هم همدغه سی نظرلری. نوبیا داسلام او نورو مذهبو نوترمینځ توپیرڅه دی؟ توپیر یی دادی چه اسلام یوازی ښځوته د احترام کولو اوعزت ورکولوسبق نه ورکوی، بلکه په واضح توګه لارښونی راته کوی چه څرنګه یوه ټولنه کولای شی چه ورته جنایتونه له مینځه یوسی.

**(ب):-حجاب دنارینه وولپاره.**

اسلام د حجا ب یو سیستم لری. قرآن مجید لومړی د نارینه د حجا ب خبره کوی او وروسته بیا د ښځی د حجاب. دنارینه حجاب په لاندنی آیات کی راغلی دی.

> ووایه ته ومومنانو نارینه ووته چی دوی باید کښته وساتی خپلی ستر ګی اووساتی خپل اندامونه. چی دا به جوړ کړی دوی سپیڅلی اوپاک. بیله شکه الله ډیر ښه خبر دی په کوم هغه شیانو چی دوی یی کوی. **((قرآن مجید (۲۴)سورة (۳۰) آیات))**

په هغه وخت کی چی نارینه و ښځی ته وګوری او که چیری کوم بی شرمه او بی حیا خیال یی په دماغ کی راځی نو دی باید خپلی سترګی کښته کړی.

**حجاب د ښځو لپاره.**

دښځولپاره د حجاب په هکله په دا لاندی دقرآن مجید آیات کی راغلی دی.

> ووایه ومومنو ښځوته چی پټوی دوی خپلی سترګی اووساتی دوی خپل اندامونه. اونه دی ښکاره کوی خپل زینت هیڅ ته. مګر هغه چی ښکاره وی له هغه نه. اووادی چوی دوی

پوړینی خپل په ګریوانونو باندی. اونه دی ښکاره کوی دوی زینت او مخ هیچا ته مګر میړونوته، پلرونوته، خسرانوته، زامونوته اوخپل ورونوته .... ((قرآن مجید (۲۴)سورة (۳۱) آیات))

دښځی لپاره د حجاب اندازه داده چه ددی ټوله جسم باید پټ وی. یوازی مخ او لاسونه یی تربندونو پوری په حجاب کی نه راځی. که د دوی زړه غواړی نو حتی دبدن دغه برخی هم پټولای شی. خوځینی اسلامی عا لمان وا یی چه حتی مخ هم باید په حجاب کی شامل وی.

**(ث):-. یومثال د غبرګولیانوخویندو.**

فکروکړی چی دوی خویندی چی غبرګولیانی دی او دواړی په یوه اندازه ښایستی دی. پر یو سړک روانی دی. یوی اسلامی حجاب کړی دی او ټوله بدن یی پټ دی پرته له مخه او لاسونو تر بندو پوری. او بلی خور غربی کالی اغوستی دی. یعنی لنډه لمن او قمیس. هلته یو څو لوچګان په یو کنج کی ولاړدی او انتظار کوی چی یو څوک راونیسی اووی ځوروی. نو ستاسو په نظر کومه ښځه به دوی وځوروی؟ هغه ښځه چی اسلامی حجاب یی کړی دی او که هغه ښځه چی غربی کالی یی اغوستی دی؟ طبعاً دوی به هغه ښځه وځوروی چی غربی کالی یی اغوستی دی. داسی کالی اغوستل په غیر مستقیم ډول د ځان دځورولو لپاره مخالف جنس رابلل دی. نو په دی اساس په قرآن مجید کی ډیر صحیح ذکر شوی دی چی حجاب ښځی د ځورونی اوآزار څخه ژغوری.

**(ج):- دجنسی تیری کوونکی لپاره دمرګ سزا.**

داسلامی شریعت سره سم کوم سړی چی واده ولری او پردی ښځی باندی جنسی تیری وکړی نوهغه ته دمرګ سزاورکولکیږی. ډیرخلګ دومره بی رحمه او سختی سزا ته هک پک پاته شی. حتی بعضی خو وایی چی اسلام یوسخت زړه اوظالم مذهب دی. ما دکافرانو نارینه ووڅخه یوآسانه اوساده سوال وکړ.هغه داچی تاسی فکر وکړی الله (ج) دی نه کوی که څوک ستاسی ښځه یا ستاسی موراویاستاسی خوربی عزته یعنی جنسی تیری ورسره وکړی او قضاوت ستاسی په لاس درکړی اوهغه شخص چی جنسی تیری کړیوی ستاسومخته حاضرکړل شی نوتاسی به کومه سزاورته ورکړی؟ ټولوراته وویل چی موږیَی مړکوو.بعضوو‌ویل چی موږیَی ترهغه وخته ځوره وو او په عذابه ووَیی تر څو چی دی مړشی. نومادوی ته وویل چی که څوک ستا سو ښځه یا مور اویا خور بی عفته کړی نوتاسی یَی وژنی مګر که هم دغه جرم دبل چا دښځی ،موراویاخورسره وشی نوتاسی بیاوایاست چی دمرګ سزا ورکول یوه بی رحمی ده. نو ولی باید دوه مخه معیاروی؟

**(چ):-په نړی کی د جنسی تیری یوه لویه اندازه په امریکا کی ترسره کیږی.**

امریکا د نړی یو له ترټولوپر مخ تللو هیوادو نوڅخه ده. د (۱۹۹۰) د (FBI) یا د امریکا د حکومت د مرکزی استخباراتومرکزی راپوروایی چه په همدی کال (۱۰۲۵۵۵)د جنسی تیری پیښی ثبت شوی دی.په راپورکی داهم ویل شوی چه د جنسی تیری یوازی (۱۶٪) پیښی ثبت شوی دی.نوکه موږوغواړو چه د جنسی تیری صحیح اندازه ځان ته معلومه کړو.چی په (۱۹۹۰) کال کی ترسره شوی دی. باید دا پورته ذکرشوی رقم په (۶.۲۵) کی ضرب کړو نو موږته جمله (۶۴۰۹۶۸) دجنسی تیری پیښی په لاس راکوی.که دغه شمیره د کال په (۳۶۵) ورځوباندی وویشو نو وبه وینوچه په کال (۱۹۹۰) کی په امریکا کی په اوسطه توګه د ورځی (۱۷۵۶) د جنسی تیری پیښی کیدلی. وروسته په

يوه بل راپورکې وويل شول چه په امريکا کې په اوسطه توګه دورځې (۱۹۰۰) د جنسي تيرى پيښې کيږى . پراساس دهغه اندازى چه د ملي جرمونود قربانيانود ادارى اود قضايي شمير چې ( دامريکا د قضا څانګه) په کا ل (۱۹۹۶) د جنسي تيرى د پيښو(۳۰۷۰۰۰) قضيې ثبت شوى دى. يوازى (۳۱٪) پيښې ثبت شوى دى. په دى ډول (۳۰۷۰۰۰) ضرب (۲۲۶.۳) مساوى کيږى په (۹۹۰۳۲۲) چه حاصل شوى رقم د (۱۹۹۶) د جنسي تيريو د پيښوراپوردى. چې په اوسطه توګه (۲۷۱۳) پيښې دورځې په دغه کال کې پيښيدلې . يعنى په هرو (۳۲ ثانيو) کې يوه پيښه د جنسي تيرى په (۱۹۹۶) کال کې په امريکاګښې پيښيد له.کيداى شي په دى کال کې امريکايان ډيرتکړه شوى وه. د (۱۹۹۰) د (FBI)راپور زياتوى چه د جنسي تيرى دپيښو يوازى (۱۰٪) مجرمين د پوليسو لخوا ونيول شول يا په بله معنى د ټولوپيښو يوازى (۱.۶٪) مجرمين دى اوددغه نيول شوود جملې څخه(۵۰٪) ترمحکمه کيدلو مخکې آزاد کړل شوى .يا په بله معنى د ټولو پيښو يوازى (۰.۸٪)مجرمين محاکمه کړل شول.دا په دى معنى چه که چيرى يو سړى (۱۲۵) جنسي تيرى وکړى دپوليسو لخوا يې د نيولو چانسونه صرف يو واردى. دډيرو خلګو په نظر دا يو ډير ښه قمار دى. ځکه د بايللو چانسونه يې لږ دى. او راپورداهم وايي د هغو کسانو د جملې څخه چه محکمې ته حاضر کړل شول. (۵۰٪) وخت قا ضيانو د نرمى څخه کار اخيستى او دوى تريوه کال لږ سزا وليدل که څه هم د امريکا په قانون کې د جنسي تيرى کوونکى مجرم لپاره تر (۷ کالو) سزا په نظر کې نيول شوى ده.

**<u>(ح):-داسلام د شريعت په پلى کولوسره نتيجې ترلاسه کيږى.</u>**

داسې فکر وکړى چه په امريکا کې اسلامي شريعت عملي کيږى. کله چې يوسړى يوى ښځې ته ګورى او بې حيا او غيراخلاقي فکريې په مغز کې وګرځې ،سمد ستي خپلي سترګې کښته کړى او هره ښځه اسلامي حجاب وکې يعنى ټوله بدن يې پرته له لاسونو تربندواو مخ څخه پټ وى.اوکه پردى سربيره بيا هم څوک جنسي تيرى کوى د مرګ سزا ورکول کيږى . سوال دادى چه په دغسې حا لاتوکې به آيا د جنسي تيرى شميرزيات شي؟يرخپل ځاى به پاته شي؟او که به کښته شي؟ طبعي خبره ده چه دا شميره به ټيټه شي.اوداسلامي شريعت نتيجه به وګورى.

**<u>۴.اسلام د بشر د ستونزولپاره د حل عملي لارى لرى.</u>**

داسلام لار د ژوند ترټولوغوره لارده.ځکه چې داسلام درس پر خبرو او مفکورو نه بلکه د بشر د مشکلاتو د حل عملي او حقيقي لاروباندى ولاړدى.اسلام دژوند تر ټولو بهترينه لاره ده ځکه دايود عمل وړ ،حقيقي او هراړخيزه مذهب دى.چه د يوه قوم او يانسل لپاره ندى محدود شوى.

**<u>دا سلام او مسلما نانود عمل ترمنځ پراخ توپير؟(۱۹).</u>**

**<u>سوال:-</u>** که چيرى اسلام تر ټولو ښه مذهب دى.نوبيا ولې ډير مسلما نان دروغجن اوبې باوره دى.آوپه بدواعمالولکه فريب کارى،رشوت ،مخدره توکو او داسې نورو بوخت دى ؟

**<u>جواب:</u>**

**<u>۱.-خبرى رسنې اسلام بد نامه کوى.</u>**

**<u>(الف):-</u>** په دى کې شک نشته چې اسلام تر ټولو ښه مذهب دى.خوخبرى رسنې د اروپا يانو په لاس کې دى او دوى داسلام څخه په ويره کې دى. خبرى رسنې په دوامداره توګه د اسلام پرضد معلومات خپر وى. يا خو دوى د اسلام په هکله غلط معلومات ورکوى،يا داسلام څخه غلط تعبير اخلي،او يا هم بې مورده يوشي خپروى.

**(ب):-** که چیری یوځای بم وچوی.لومړی پرته لدی چی ثبوت پیدا شی.داعمل پرمسلمانانو تاوانیږی.او په خبرونو کی په سرخط کی راځی وروسته کله چه معلومه شی چه داکار مسلمانانو نه ووکړی،بیا نو داخبرته چندانی اهمیت نه ورکول کیږی.
**(پ):-** کله چی یو (۵۰ کلن) نارینه د یوی (۱۵ کلنی) نجلی سره په داسی حال کی واده کوی چه د هغی نجلی خوښه او رضا یت یی هم ترلاسه کړی وی. نو داسی خبره د اخبار پراوله صفحه باندی راځی .خوکله چه یو (۵۰ کلن) کافر پریوی (۶ کلنی) نجلی باندی جنسی تیری کوی. نو دا خبربیا د اخبار په منځنی صفحه کی د لنډ خبر په ډول خپریږی. په امریکا کی هره ورځ په اوسط ډول د جنسی تیریو(۱۷۱۳) پیښی واقع کیږی خودا په اخبار کی هیڅ نه راځی ځکه چه داشیان اوس دامریکا د ژوند یوه برخه ګرځیدلی ده.

## **۲. په هر ه ټولنه کی بد فعله او بد کرداره خلګ شته.**

زه خبر یم چی ځینی داسی مسلما نان شته چی درواغ وایی ،اعتماد نشی پری کیدای او خلګو ته دوکه ورکوی.خو خبری رسنی دا خبر داسی خپره وی چه ګواکی یوازی مسلمانان په دغوبدو افعالوکی اخته دی. ښه او بد په هره ټولنه کی شته. زه پوهیږم چه یو شمیرمسلمانان شراب چښی او ځینی یی حتی تر کافرانو هم ډیرزیات شراب چیښی.

## **۳. په مجموع کی مسلمانان ترټولو ښه دی.**

سره لدی چی په مسلما نوټولنو کی ځینی بد فعله خلګ شته،خو مسلمانان په مجموع کی دنړی ترټولو بهترینه ټولنه ده.موږ په مجموع کی ترټولو غټه ټولنه یوچی شراب نه چیښو په ګډه سره،موږ ترټولوزیات خیرات ورکوونکی ټولنه یو. په نړی کی داسی یوه ټولنه نه پیداکیږی چه په ګډه سره د انسا نی ارزښتونو او قدرونو پراساس او بنیاد د مسلمانانوسره مرسته وکړی.

## **۴.دموټرښه والی اوبدوالی د موټرچلوونکی په ښه والی او بدوالی سره مه معلوموی.**

که تاسی غواړی چه دا معلومه کړی چه د مرسیډ یز موټر دانوی ما ډل موټرخومره ښه دی او یوداسی موټروان پرشټرینګ کینوی چه په موټرپی سرنه خلاصیږی او موټر ته تاوان ورسوی نو ګناه د چاده؟ دموټرکه د موټرچلوونکی؟طبیعی ده چه موټرچلوونکی په ملامتیږی. که غواړی چه د موټرکیفیت معلوم کړی نو باید موټروان نه بلکه د موټر خصوصیت په نظر کی ونیسی . داوګوری چه د موټررفتارخومره دی،څومره تیل مصرف وی،څومره خوندی دی او داسی نور. که په ریښتیا هم غواړی چه د موټر صحیح امتحان وکړی. نو موټر ترټولوماهرموټروان ته په لاس ورکړی. که زه فرضا داهم و منم چه مسلمانان خراب هم دی،خوموږ د اسلام د ښه والی او بدوالی قضاوت د اسلام د پیروانو له رویه نشوکولای. که غواړی چه د اسلام د ښه والی په هکله معلومات ترلاسه کړی. نو باید د اسلام د ریښتنی منابعوله مخی لکه قرآن مجید او د پیغمبرعلیه السلام د احادیثوله مخی یی ترلاسه کړی.

## **۵. داسلام د ښه والی او بدوالی قضاوت د اسلام د ترټولوښه پیرو یعنی حضرت محمد (ص) له رویه وکړی.**

همدارنګه د اسلام تر ټولوښه او د ټولو لپاره یوه بهترینه نمونه پیروی کوونکی دی چه تاسو ته یی اسلام د ښه والی په هکله صحیح معلومات درکړی،هغه د الله (ج) وروستنی نبی حضرت محمد (ص) دی. پرمسلمانانو برسیره ډیرداسی غیرمتعصبه او ریښتنی تاریخ پوهان شته چه هغوی هم وایی

پیغمبرعلیه السلام ترټولو ښه انسان وو. (مائیُکل ایچ هارټ) چاچه یوکتاب په نامه د(په تاریخ کی ترټولو زیاد متاثره کوونکی اشخاص) لیکلی دی. لومړی مقامی پیغمبر علیه السلام ته ورکړی دی.او همدارنګه نورزیات غیرمسلم تاریخ پوهان هم شته چه پیغمبر علیه السلام یی ډیرستایلی دی.لکه (ټامس کارلیل، لامارتین ) او داسی نور.

**(۲۰)<u>غیرمسلمانانو ته کافران ویل</u>.**

**<u>سوال</u>**:- مسلمانان ولی غیرمسلما نانو ته د هغوی د سپکاوی لپاره دوی ته کافران وایی؟

**<u>جواب</u>**:-

**<u>کافریعنی رد کوونکی.</u>**

د کافر کلمه د کفر څخه اخذ شوی ده او د کفر معنی ده پټول او یا منع کول . په اسلامی اصطلاح کی کافر هغه سړی ته وایی چه د اسلام حقایق پټوی او یا یی رد وی. په انګلیسی کی هغه سړی چه اسلام ردوی،غیرمسلم ورته ویل کیږی. که د یو غیرمسلم په نظر ده ته د غیرمسلم یا کافر ویل چه دواړه یوه معنی لری وده ته سپکا وی دی نو دا په حقیقت کی دا دده غلط فهمی ده. دی با ید د اسلام اواسلامی اصطلا حاتود زده کړی لپاره د صحیح منا بعو څخه استفاده وکړی. په دی ترتیب نه یوازی دا چی دی به د سپکاوی احساس ونه کړی بلکه د اسلام په صحیح مطلب به هم پوه شی.